# دعا

ځیړنه:

اجرالدین اقبال

# دعا

ځېړنه:

اجرالدین اقبال

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نامه: دعا

څېړنه: اجرالدين اقبال

د چاپ کال او وار: لومړی

تخنيکي چارې: انديال؛ ديني، علمي، فرهنگي او خپرندويه ټولنه www.andyal.com

دعا ........................................................................................ ۸
د دعا روحانیت .............................................................................. ۸
له زړه نه الله تعالی ته لار ................................................................. ۱۰
اضطراري پرېکون او اختیاري پرېکون ................................................... ۱۴
د دعا شرایط ................................................................................ ۱۵
د دعا پر قبلېدو ایمان او ګروهه ........................................................... ۱۷
د تکوین او تشریع له سننو سره مخالف نه وي ......................................... ۱۸
د دعا کوونکي د نورو چارو همغږي ....................................................... ۱۸
په دعا کې غوښتل شوی چار دې د ګناه پایله نه وي..................................... ۱۹
دعا باید د فعالیت ځایناستې نشي .......................................................... ۲۲
دعا او د قضا و قدر ......................................................................... ۲٤
دعا او حکمت بالغه .......................................................................... ۲۵
دعا او د خوښی مقام ........................................................................ ۲٦
د قدر شپې .................................................................................. ۲۷
د دعا خوند او له خلکو پرېکون............................................................ ۲۸
دعا او لمانځنه................................................................................ ۳۱

ابوریحان البیروني او فقیه ........................................................ ۳۳
حضرت علي (کرم الله وجهه) او د دعا روح ............................................ ۳۷
دعا ته د الله تعالی اجازه اعتباري نه ده ........................................۴۰
دعا مازې د انبیاوو ښوونه ده .........................................................۴۰
دعا په مینې پورې اړه لري ..............................................................۴۱
هغوی چې د دعا ذوق نه مومي د الله تعالی له درشله شړل شوي.................۴۴
دعا د بندګۍ ښودل دي نه د ژوند وزله .............................................۴۴
له ټولو څنې د دعا اوچته مرتبه غوښتل شوې نه ده ...............................۴۶
د دعا مرتبې د انسانانو له روحي مراتبو سره اړه لري ...............................۴۸
دعا د معرفت مېوه ده ....................................................................۴۹
د څښتن تعالی له لورنې او کرم څخه نهیلي ستره ګناه ده ......................... ۵۰
الله تعالی له خپلو بندګانو سره تر عدل څخه ډېر په جود وکرم معلامله کوي ... ۵۵
الله تعالی د چا پورووړی نه دی......................................................... ۵۸
د هستۍ نظام د حسناتو پالنه کوي او سیئات خواروي ............................۶۱
پاکۍ، بدۍ هم له منځه وړي...........................................................۶۲
هیله په نړۍ کې د انسان یوازېنۍ پانګه ده .........................................۶۵

د اعمالو او سزا د اړیکې په اړه د فیلسوفانه انګېرنې ستونزه ........................ ۷۰
دعا د هر دين لاينفک برخه ده ........................................................... ۷۸
په دعا کې آر، له الله تعالی سره مينه ده ................................................ ۸۰
دعا ته د الله تعالی د ځوابونو ډولونه ...................................................۸٤
د دعا نه قبلېدو دلايل........................................................................ ۸۵
د دعا په اړه د «ګالتن» څېړنېزه شمېرنه........................................................۸٦
د انبياوو او امامانو هم ټولې دعاوې قبولې شوي نه دي ............................. ۸۹
د دعا په قبلېدو کې ځنډ، نبايد انسان د دعا له آره واړوي...................... ۹۰
الله تعالی د بشري هوسونو د پوره کولو وزله نه ده ...................................... ۹۳
مازې پر دعا توفيق، د دعا بدله او ځواب دی ........................................... ۹۳
غوره ده، انسان په دعا کې له الله تعالی پاتېدونې چارې وغواړي ......................۹٤
پېغمبران او ديني مشران د سمې دعا کولو د طريقې غوره ښووونکي دي ........۹٦
د پالونکي په درشل کې تذلل.......................................................................... ۹۷
پر ګناهونو ژړا او زاری...................................................................... ۹۹
هغوی چې دعا يې نه قبلېږي ................................................................. ۱۰۷

## دعا

((وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ[1]= او چې کله دې زما بندګان زما په باب وپوښتي، (نوووايه: )چې زه نژدې يم او بلونکی، چې ما وبلي؛ نو دعا يې قبلوم؛ نو بايد زما بلنه ومني او پر ما ايمان راوړي، چې ښايي سمه لار ومومي (او مقصد ته ورسي )

## د دعا روحانيت

دعا اجر او ثواب لري او د دعا د منل کېدو ژمنه شوې؛ خو که دعا له ژبې تېره شي او ژبه له زړه سره همغږي پيدا کړي او د انسان روح ولړزوي؛ نو ستر روحانيت لري؛ داسې به وي؛ لکه چې

[1] (بقره/١٨٦)

انسان ځان په رڼا کې ډوب ویني او هله به د انسان د شرافت ګوهر احساس کړي. هغه مهال به پوه شي، چې په نورو وختو کې، چې نورو وړو څیزونو پر ځان بوخت کړی و او کړاوه یې، څومره پرېوتي ول.

انسان چې کله بې له خدایه څه غواړي؛ نو د بې پتۍ احساس کوي؛ خو چې له خدایه څه غواړي؛ نو د پت احساس کوي؛ نو دعا هم طلب (غوښتنه) ده او هم مطلوب. هم وزله ده او هم موخه. هم سریزه ده او هم پایله. الهي اولیاوو د دعا هومره بل هېڅ څیز هم ښه نه ایسېدل، د زړه ټول حال یې خپل واقعي محبوب ته وایه او تر مطلوبونو یې ډېر خپلو طلبونو، دعاګانو او راز و نیاز ته ارزښت ورکاوه، په دعاګانو نه ستړي کېدل؛ لکه څنګه چې حضرت علي (کرم الله وجهه) "کمیل نخغي" ته وایي:

((ناڅاپه د بصیرت د حقیقت په کمال کې آګاهي یې پر زړونو راکېووته او د یقین خوند یې درک کړ او د هغه له حقیقت سره یې اړیکه ونیوه او له څه نه، چې دنیا لمانځي په وېره کې دي او

ناوړه او ستونزمن یې ګڼي؛ دوی ته نرم، په زړه پورې او خوږ دي او له هغه څه سره مل شوي، چې ناپوهان ترې په تېښته کې دي او له دنیاوالو سره یې په هغو بدنونو معاشره کړې، چې د بدنونو روح یې په ربوبي عالم پورې اړوند دی. ))

پرعکس یې هغه تور، قلف شوي او زنګ وهلي زړونه دي، چې د الله تعالی له درشله شړل شوي دي.

## له زړه نه الله تعالی ته لار

هر څوک له زړه نه الله تعالی ته لار لري. له ټولو زړونو د الله تعالی پر لوري ور شته. ان تر ټولو ستر ګناهګاران، چې په سختیو کې راښکېل شي او ټول ورونه پرې وتړل شي؛ نو الله تعالی ته زارۍ کوي، چې دا د انسان په وجود کې یو فطري او طبیعي لېوالتیا ده؛ خو کله پرې د ګناه او سرغړونې دوړې غورځېږي. په

سختیو کې، چې دا دوړې والوځي؛ نو په خپله دا لېوالتیا تحریک او په خوځښت شي.

یو سړي امام صادق وپوښت: د الله تعالی پر وجود څه دلیل دی؟ امام: تر اوسه په بېړۍ کې سور شوی یې؟ و یې ویل: هو ! امام: تر اوسه پېښ شوي، چې په سمندر کې توپان شي او بېړۍ د ډوبېدو په حال کې وي او له هر ځایه دې هیله پرې شي؟ و یې ویل: هو داسې راپېښ شوي ول. امام وویل: هغه مهال دې زړه یو ځای ته متوجه و او پناه یې غوښته او له یو ټکي یې غوښتل، چې و یې ژغوري؟و یې ویل: هو! امام: هغه هماغه الله تعالی دی، چې په هغو سختو حالاتو کې دې ترې پناه غوښته.

امام صادق سړي ته د زړه له لارې یې الله تعالی وروپېژانده.

((وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ[۲]= او (همداراز) ستاسې پخپل ځان کې (نښې دي) نو ایا (حقایق) نه وینئ؟!))

دا لېوالتیا، چې د بشر په فطرت کې ده، هغه مهال راښکاره کیږي، چې له نورو اسبابو یې تمه پرې شي، چې په خپله دا لېوالتیا دداسې څواک پر شتون دلیل دی او که نه و؛ نو د انسان وجود به داسې لېوالتیا نه درلوده.

البته دا سره توپیر لري، چې یوه لېوالتیا د انسان په وجود کې وي او داچې انسان هغه لېوالتیا پوره وپېژني او په موخه یې پوه شي. د شیدو خوړو لېوالتیا له پیله په ماشوم کې وي، چې کله وړی شي او دا اړتیا یې په وجود کې پیدا شي؛ نو دا لېوالتیا هڅېږي، چې د نالیدي، ناپېژاندي او ناروړد تي پر لور یې ښیونوي. دا لېوالتیا په خپله یو لارښود دی، چې خوله یې پرانځي او د تي په لټه کې شي او که و یې نه موند؛ نو په ژړا کیږي او په خپله ژړا کول له

---

[۲] **(ذاریات/۲۱)**

موره د مرستې غوښتنه ده؛ هماغه مور، چې تر اوسه يې نه پېژني او له وجوده يې خبر نه دی؛ خو په خپله ماشوم نه پوهېږي، چې ددې لېوالتيا موخه څه ده، ددې ژړا موخه څه ده، ولې يې دا لېوالتيا په وجود کې ايښوول شوې ده؛ نه پوهېږي، چې هاضمي سيستم لري او دا سيستم يې خواړه غواړي او نه پوهېږي، چې د څه لپاره شيده غواړي.

مور د انسانيت عالي لېوالتياوو، الله تعالی غوښتنې، الله تعالی پلټنې او دعا ته د هماغه ماشوم حالت لرو، چې نه يې تی ليدلی او نه مور او نه مور پېژني.

((إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ[3]= موږ د الله يو او لوري ته يې ورستنېدونکي يو!))

[3] **(بقره/١٥٦)**

((أَلَا إِلَى اللَّهِ تَصِيرُ الأُمُورُ[4]= خبر اوسئ چې (ټولې) چارې يوازې د الله تعالی لوري ته ورگرځي!))

البته که تی او شیده د ماشوم له معدې سره مناسب نه ول؛ غريزې به هم هغې لوري ته نه راکاږه. ددې خوړو او هغې لېوالتيا ترمنځ اړيکه او پيوستون دی او همداسې دي د انسان د وجود نورې لېوالتياوې. يوه لېوالتيا هم د انسان په وجود کې بېځايه نه ده پنځول شوې او ټولې د انسان د اړتيا له مخې او د اړتيا پوره کولو لپاره پنځول شوي دي.

## اضطراري پرېکون او اختياري پرېکون

شونې ده، انسان په دوو حالتو کې الله تعالی ياد کړي: يو هغه مهال، چې علل او اسباب ترې پرې شي او په سختۍ کې راښکېل

---

[4] (شوری/٥٣)

شي او يو وخت هغه مهال، چې روح يې پورته والوځي او په خپله ځان له اسبابو او عللونو راوشلوي. د اضطرار او د اسبابو د پرې کېدو پرمهال انسان په خپله د الله تعالی پر لوري ځي او بلنې ته اړتيا نه لري، چې دا انسان ته کمال نه دی او د انسان د نفس کمال په دې کې دی، چې په خپله ځان له اسبابو او عللو راوشلوي او روح يې والوځي.

## د دعا شرايط

دعا خپل شرايط لري او لومړی شرط يې دادی، چې واقعاً غوښتنه د انسان په وجود کې راپيدا شي او د بدن ټولې ذرې يې دا غوښتنه څرگنده کړي، چې واقعاً څه چې غواړي د اړتيا، غوښتنې او دعا په بڼه شي؛ لکه څنگه چې د بدن په يوه برخه کې يې چې څه ته اړتيا پيدا شي؛ د بدن ټول غړي يې په فعاليت پيل وکړي او ان يو غړی خپل کار رالږ وي، چې د بل غړي اړتيا پوره شي. د بېلگې

په توګه: که انسان تږی شي او د تندې اغېز يې په ټول بدن کې راښکاره شي؛ د بدن ټول غړي يې په يو ځای وايي: ((اوبه !))

ټولې نړۍ ته د انسان اروايي او مانيزه اړتيا ـ چې د هستۍ يوه برخه ده ـ همداسې ده. د انسان اروا د هستۍ يوه برخه ده؛ که واقعاً يې په وجود کې اړتيا راپيدا شي؛ نو د هستۍ ستره غونډاله-دستګاه يې بې برخې نه پرېږدي.

((أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاء الْأَرْضِ أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ قَلِيلاً مَّا تَذَكَّرُونَ[٥]=يا هغه چې د اړمن دعا قبلوي، کړاو لرې کوي او تاسې د ځمکې ځايناستي کوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ تاسې ډېر لږ نصيحت منئ. ))

---

[٥] **(نمل/٦٢)**

## د دعا پر قبلېدو ايمان او گروهه

د دعا بل شرط د الله تعالی پر ناپايه رحمت ايمان دی، چې هغه هېڅکله خپل لورنه او فيض له خپلو بندگانو نه سپموي، ايمان ولري، چې د الله تعالی د لورنې ور هېڅکله پر بندگانو نه تړل کېږي او ټولې نيمگړتياوې د بنده له لوري دي. امام علي بن الحسين زين العابدين د "ابوحمزه" په مشهوره دعا کې ـ چې هيلې او ډاډ پکې خپې وهي او امام به د رمضان په مياشت کې ويله ـ خپل الله تعالی ته وايي:

(( الله تعاليه ! له تا يې غواړم او تاته هيله من يم، ستا له فضل او لورنې غوښتنه سمه گڼم او ستا د درشل ورونه تل هغوی ته پرانېستي دي، چې له تا يې غواړي او په ډاډ پوه يم، چې ته د دعا کوونکيو د دعا قبلېدو او پناه غوښتونکيو ته پناه ورکولو ته چمتو يې او همداراز ډاډمن يم، چې ستا په ښښنه او رضا. . . .

## د تکوین او تشریع له سننو سره مخالف نه وي

د دعا بل شرط دادی، چې د تکوین او تشریع له سننو سره مخالف نه وي. دعا هغو موخو ته د رسېدو لپاره مرسته غوښتل دي، چې د تکوین او تشریع قانون ورته ټاکلي وي او که دعا داسې وي؛ نو د یو طبیعي غوښتنې بڼه به ولري او داچې په غونډال کې توازن او تعادل دی؛ نو په هر ځای کې، چې اړتیا وي، فیض او مرسته به وررسي؛ خو د هغو څیزونو غوښتنه، چې د تکوین او تشریع د قانون پرخلاف وي؛ لکه په دنیا کې تلپاتې ژوند؛ نو دا ډول دعاوې واقعي دعاوې نه دي.

## د دعا کوونکي د نورو چارو همغږي

د دعا بل شرط دادی، چې د دعا کوونکي د ژوند نورې چارې له ژوند سره همغږي ولري؛ یعنې هغوی د تکوین او تشریع له موخو سره همغږي ولري؛ پاک سوتره زړه ولري؛ ګټه او کسب یې حلال وي او پر خلکو یې تېری نه وي کړی.

په دې هکله امام صادق وايي:

(( که غواړئ دعا مو ومنل شي؛ نو خپله ګټه او کسب-ورهنه حلال ساتئ، د خلکو حق پر غاړه مه پرېږدئ؛ ځکه د هغه بنده دعا پورته نه وړل کېږي، چې د چا حق يې پر غاړه وي[٦]. ))

## په دعا کې غوښتل شوی چار دې د ګناه پايله نه وي

د دعا بل شرط، چې بالفعل کوم حالت لري او هيله من وي، چې حالت يې بدلون او غوراوی وومي، په دنده کې يې د ناغېړۍ پايله نه وي. په بله وينا: د کوم حالت د بدلېدو دعا، چې کوي، د ګناهونو منطقي عقوبت او پايله يې نه وي، چې په دې بڼه کې څو يې توبه نه وي کړي او ددې حالت موجبات يې له منځه نه وي وړي؛ نو حالت به يې بدل نشي. د بېلګې په توګه: پر نېکيو امر او له بديو منع فرض ده. د ټولنې سمونه او ورانونه د همدې

[٦] (**بحارالانوار٣٢١/٩٣**)

آر په پلي کولو او نه پلي کولو پورې اړه لري. "پر نېکیو امر او له بدیو د منع" د پرېښوو منطقي پایله داده، چې د ټولنې ډګر به اشرارو ته تش وي او پر خلکو به واکمن شي. که خلک په دې دنده کې ناغېړي وکړي او ددې ګناه پر منطقي پایله او عقوبت اخته شي او بیا وغواړي په دعا له دې بلا ځان وژغوري؛ نو دا ناشونی چار دی. یوازېنی لار یې داده، چې توبه وکړي او بیا د خپلې وسې هومره "پر نېکیو امر او له بدیو منع" وکړي؛ البته په دې توګه به سوکه سوکه خپلې موخې او مطلوب ته ورسي.

((إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ[٧]= په حقیقت کې الله تعالی د کوم قوم (او ملت) حال نه اړوي، څو هغوی خپل حال پخپله نه وي اړولی))

---

[٧] **(رعد/١١)**

الهي سنت داسې دی، چې څو په خپله خلکو هغه چارې نه وي بدلې کړي، چې په ځان پورې یې اړه لري؛ نو الله تعالی یې هم نه بدلوي.

په معتبرو احادیثو کې راغلي: ((پر نېکیو امر او له بدیو منع وکړئ؛ ګنې ناوړه وګړي به درباندې واکمن شي او که بیا مو نېکچاري دعا هم کوي؛ نو نه به منل کېږي. ))

په حقیقت کې دا ډول دعاوې هم د تکوین او تشریع د قانون پرخلاف دي.

همداراز که څوک عمل نه کوي او یوازې دعا کوي؛ نو دا کار یې د تکوین او تشریع د قانون پرخلاف دی.

په دې هکله امام علي کرم الله وجهه وايي: (( هغه چې عمل نه کوي او دعا کوي؛ نو د هغه کس په څېر به وي، چې په بې ربړه-

تسمې لیندۍ غشی ایشتل غواړي.[۸] ))؛ یعنې عمل او دعا یو د بل بشپړوونکي دي او دعا بې له عمله اغېز نه لري.

## دعا باید د فعالیت ځایناستې نشي

د دعا بل شرط دادی، چې واقعاً د اړتیا ښکارندوی وي او هغه مهال وي، چې انسان مطلوب ته لاسرسی نه لري او بېوسه وي؛ خو که د یوې اړتیا د پوره کېدو کونجي د انسان په لاس کې وي او هغه کفران نعمت کوي او د کونجې له کارولو ډډه کوي او له خدایه غواړي هغه ور ورته پرانځي، چې کونجي یې د دعا کوونکي په لاس کې ده او په کونجي د ور د پرانستلو وس ترې واخله؛ نو داسې دعا د منل کېدو وړ نه ده.

---

۸ **(بحارالانوار۳۱۲/۹۳)**

دا ډول دعاوې هم باید د تکوین او تشریع د قانون پرخلاف وګڼل شي. دعا د وس لاس ته راوړو لپاره وي.

په روایت[۹] کې راغلي دي: پینځه دعاوې نه منل کیږي: یو د هغه کس دعا، چې مېرمن لري او خپله مېرمن کړوي او له لاسه یې پوزې ته راغلی وي او غواړي بې له مهر ورکولو یې طلاقه کړي؛ خو طلاق نه ورکوي او تل وایي: خدایه ماددې ښځې له شره خلاص کړې. بل د هغه دعا، چې مریی لري او تل ترې تښتي او بیا یې هم له ځان سره ساتلی وي، ووایي: خدایه ما ددې مریي له شره خلاص کړې، حال دا، کړای شي دا مریی وپلوري. بل د هغه کس دعا نه منل کیږي، چې د یو کوږ دېوال تر غاړې روان دی او پوهیږي، چې راغورځیږي؛ خو ترې نه لرې کیږي، ووایي: خدایه و مې ساتې. بل د هغه دعا، چې بل کس ته یې پور ورکړی وي؛ خو ناغېړي یې کړې وي، شاهد و نه لري او سند یې نه وي

---

۹ **(بحارالانوار۳۵۶/۹۳)**

لیکلی او پورړوی یې پور نه ورکوي او پورورکوونکی تل دعا وکړي: خدایه ! پور مې له پوروړي واخله، حال دا، په خپل لاس کې یې ول، چې شاهد ونیسي او یا سند ولیکي. بل د هغه دعا نه منل کېږي، چې په کور کې ناست وي، ورهنه-کار و کسب یې پرېښی وي او تل ووایي: ((اللهم ارزقنی-خدایه روزي راکړې.))

روښانه ده، چې یوازې همدا پنیځه ځایونه نه دي. دا یې بېلګې ته راوړي دي.

په هستۍ کې دعا ددې لپاره نه ده، چې د عمل ځایناستې شي. دعا د عمل بشپړونکې ده؛ نه ځایناستې.

## دعا او د قضا و قدر

د دعا په هکله پخو او نن خورا پوښتنې شوي دي؛ لکه: دعا د قضا و قدر له ګروهې سره اړخ نه لګوي او که ومنو، چې هر څه الهي قضا وقدر ټاکلي دي؛ نو دلته د دعا اغېز څه دی؟

**دعا او حکمت بالغه**

یا داچې دعا له دې ګروهې سره اړخ نه لګوي، چې الله تعالی حکیم دی او ټول چارې یې د حکمت او مصلحت له مخې دي او څه چې دي او موږ یې په دعا بدلول غواړو، له مصلحت او حکمت سره اړخ لګوي که نه. که له حکمت سره اړخ لګوي؛ نو نه ښايي موږ له خدایه هغه څه وغواړو، چې له حکمت سره اړخ نه لګوي او نه ښايي الله تعالی داسې دعا ومني او که له حکمت سره یې اړخ لګوي؛ نو څنګه منلای شو، چې د هستۍ په چارو کې د حکمت او مصلحت پرخلاف چار وي، حال دا، هستي د الله تعالی د حکمیانه مشیت له مخې پنځول شوې ده؟

## دعا او د خوښۍ مقام

یا داچې دعا د انسان د رضا او خوښۍ له مقام سره اړخ نه لګوي؛ یعنې پر هغه څه خوښ نه وي، چې الله تعالی ورکړی دی.

دا وینې او پوښتنې ډېره مخینه لري ان زموږ د ادبیاتو یوه برخه ده؛ خو پردې خبرو د وینو وخت نشته او ددې ټولو نیوکو سرچینه داده، چې انګېرلي یې دي، چې دعا د قضاوقدر او الهي حکمت له حوزې وتلی چار دی، حال دا، په خپله دعا هم د الهي قضاوقدر یوه برخه ده او احیاناً د ځینو قضاو قدرونو مخه نیسي؛ نوځکه نه پر قضا له خوښۍ سره ټکر لري او نه له الهي حکمت سره.

## د قدر شپې

((وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ[10]=او چې کله دې زما بندګان زما په باب وپوښتي، (نو ووایه: )چې زه نژدې یم او بلونکی، چې ما وبلي؛ نو دعا یې قبلوم؛ نو باید زما بلنه ومني او پر ما ایمان راوړي، چې ښایي سمه لار ومومي (او مقصد ته ورسي ). ))

دا آیت د رمضان د میاشتې د آیتونو په منځ کې دی او کېدای شي دا آیت یې ځکه د رمضان د میاشتې په آیتونو کې راوړی وي، چې دا میاشت دعا او استغفار ته ځانګړې ده او دیني مشرانو په دې شپه ویښ ول او عبادتونه او دعاوې یې کولې.

[10] (بقره/۱۸٦)

د رمضان روستۍ لس شپې به چې شوې؛ نو د الله تعالی رسول به ویل: "بستره مې د روژې تر پایه مه اچوئ" او په دې شپو کې به تل په عبادت او دعاګانو بوخت و.

علي بن الحسین به د رمضان په شپو کې نه ویدېده، د شپې به یې یا لمونځونه کول، یا دعا او یا د بېوزلیو لاسنیوی او په پشمني کې به یې ځانګړې دعا ویله، چې په "ابوحمزه ثمالي"مشهوره ده.

### د دعا خوند او له خلکو پرېکون

هغوی چې د دعا په خوند پوه شوي او له خلکو یې الله تعالی ته مخه کړې وي؛ نو په دې خوند یو خوند ته هم لومړیت نه ورکوي؛ دعا هغه مهال لوړې، ستریا او خوند ته رسي، چې دعا کوونکی ځان په نېکمرغۍ کې ډوب او د الله تعالی د ځانګړې پېرزو او د دعا د منل کېدو نښې وویني. ((خدایه !په هغه څه کې

راته حسن نظر راوښیه، چې درنه مې غوښتي دي او د دعا د منل کېدو خوړلنی راباندې وځکه.[11]))

پوهان وايي: "علم اليقين"، "عين اليقين" او "حق اليقين" سره توپير لري، وايي: فرض کړئ پر یو ځای اور لګېدلی دی. یو وخت تاسې ددې اور اغېز مثلاً لوګی وینئ او له لوګي پوهېږئ، چې هلته اور دی. دا "علم اليقين" دی. یو وخت په خپله اور له نږدې وینئ. دا "عين اليقين" دی، چې تر پوهې اوچت دی او مشهود دی. یو وخت اور ته دومره ورنږدې کېږئ، چې د اور تودوخه مو بدن ته رارسي او ګرموي مو. دا "حق اليقين" دی.

شونې ده، چې انسان الله تعالی ښه وپېژني او پر سپېڅلي ذات يې ايمان ولري؛ خو په ژوند کې یې هغه پېرزو او عنايت و نه ويني، چې الله تعالی يې خپلو بندګانو ته ورکوي. دا د "علم اليقين"

---

[11] وګ: "صحيفه سجاديه اوومه دعا"

درجه ده؛ خو کله داسې وي، چې عملاً د توحید اغېز ویني، دعا کوي او خپله دعا منل شوې ګڼي، په چارو کې پر الله تعالی ډاډ او توکل کوي او له "غیرالله" یې ډاډ پرې کېږي او ددې توکل، ډاډ او دعا اغېز په خپل ژوند کې ویني او دا د "عین الیقین" درجه ده. د الله تعالی هغه بندګان خوند اخلي، چې پر الله تعالی ډاډ لري او د خپل توکل، ډاډ او دعا اغېز په خپل ژوند کې ویني او له هغو نېکمرغیو برخمنېږي، چې موږ یې لږ تصور کړای شو؛ البته تردې اوچته درجه هغه ده، چې دعا کوونکی ځان نېغ په نېغه د حق له ذات سره په اړیکه کې ووینې او ځان ورته نه ښکاري؛ فعل د هغه فعل، صفت د هغه صفت او په هر څه کې هغه ویني.

انسان، چې کله کوم هنر، علم او فن زده کړي، ډاکټر یا انجینر شي؛ نو تر کلونو کلونو زحمتونو روسته چې د خپل کار او زحمت اغېز او پایله ویني، د بېلګې په توګه، چې کله ناروغ ورته راشي او درملنه یې وکړي او ناروغ روغ شي او انجینر د خپلې نخچې جوړ شوی کور ووینې؛ نو په خوشحالۍ کې ډوبېږي او په خپل

ځان کې عزت احساسوي. تر ټولو غوره خوند هغه دی، چې انسان د خپل هنر اغېز ووينې.

نو څومره به انسان خوشحاله وي، چې پر الله تعالی د ایمان د هنر اغېز؛ یعنې پر ځان د الله تعالی پېرزو ووينې. کوم عزت، خوشحالي او برى، چې لري؛ تر هرې درجې لوړ دی او خوند یې تر ټولو خوندونو خوږ دی.

الله تعالی دې موږ ددې وړ کړي، چې د دعا کولو توفیق ومومو او ددې سپېڅلي روحاني حالت له نعمتونو برخمن شو.

## دعا او لمانځنه

د ځینې اروپوهانو له نظره دعا او عبادت د انسان په ځانګړیو وړتیاوو کې شمېرل کېږي. لومړی خبره داده، چې ایا دعا او عبادت په انسان کې اصیل حس او غریزه ده او که نورو غرایزو زېږولې؟ ډېری اروپوهانو په انسان کې دعا او عبادت اصیل حس منلی دی.

په یوه اروا‌پوهیزه مقاله کې مې ولوستل: د انسان اروا له هغه اړخه، چې انسان، انسان دی، څو اړخه لري، چې په څارویو کې نشته. هغه دا غرایز په "بُعد=اړخ" تعبیر کړل، چې د انسان وجود څو بُعده لري: د حقیقت پلټنې بُعد یا علم؛ یعنې پردې سربېره، چې پوهه د انسان ژوند ته ګټوره ده، د ژوند وزله هم ده او له هغه اړخه مطلوبه ده، چې انسان ته حقایق رابرسېروي. انسان حقیقت په خپله د حقیقت لپاره هم غواړي او ګومان نه کوم، چې په دې اړه څه اړنګ وي. د مثال په توګه: که موږ پوه شو، چې یوه ډله علماء یو داسې حقیقت ته رسېدلي، چې دا حقیقت اصلاً پر ځمکه د خلکو د ژوند په هکله او ان د لمریز غونډال په هکله هم نه دی او پرې پوهېدل او نه پوهېدل راباندې د ستنې د سر هومره اغېز هم نه لري، بیا هم که وپوښتل شو، چې ایا زړه دې غواړي پرې پوه شې که نه؟؛ نو څوک هم نه وایي، چې ورباندې پوهېدل او نه پوهېدل راته یو شان دي، بیا هم انسان غواړي پرې پوه شي.

پوهه رڼا ده او ناپوهي تپه تیاره. انسان بالضروره له ناپوهۍ او تیارې په تېښته کې دی او رڼا ته لېوالتیا لري.

## ابوريحان البيروني او فقيه

د "تراجم" په کتاب کې ليکل شوي: مشهوره ده، چې يو فقيه وايي: ابوريحان په مرگ رنځور و، چې پوښتنې ته يې ولاړم او و مې ليدل، چې مرگ يې رانږدې دی؛ خو ماغزه يې پر ځای ول؛ نو په هماغه حال يې سترگې پرانيستې او د ميراث په هکله يې رانه يوه فقهي پوښتنه وکړه. زه حيران شوم، چې په مرگونی حال ولې داسې پوښتي؟

راته يې وويل: که زه پوه ومرم؛ نو ښه ده او که ناپوه؟پوهېږم، چې مرم؛ خو فکر کوم ښه به وي، چې پوه شم او ومرم نه داچې ومرم او ناپوه يم.

ما يې هم ځواب ورکړ. تر وسه لا خپل کور ته نه وم رسېدلی، چې له کوره يې چغې راپورته شوې، چې ابوريحان ومړ.

بل يې اخلاقي اړخ ښوولی. البته مراد ترې انساني عاطفه او له نورو انسانانو سره مينه ده، چې د اصيلې عاطفې په بڼه پرې گروهن دی.

بل د ښکلا اړخ دی، چې په خپله ښکلا انسان ته اصالت لري.

بل اړخ يې د دعا او عبادت اړخ ښوولی. ډېری خلکو دا خبره کړې؛ خو "ويليام جيمز" پرې ډېر ټينگار کړی، چې د "دين او

اروا" په نامه کتاب يې هم ژباړل شوی دی، چې د کتاب ليکوال د دېرش کالو لپاره د خلکو په ديني اروايي حالت ازمېښتونه کړي ول او ترې راورسېد، چې ديني حس ته په اصالت قايل شو.
دا يو انساني حس دی او که غواړو، چې روزنه مو بشپړه شي؛ نو دا بايد پياوړی شي.

## د يوې نيوکې ځواب

سره له دې، چې اسلام زموږ دين دی او بايد د دعا او عبادت حس پکې پياوړی او روزل شوی وي؛ خو هېڅ پام ورته نشته. هغه عبادتونه هم، چې په اديانو کې راغلي، د عبادت له حس سره کار نه لري؛ له تمې سره کار لري، چې بايد مبارزه ورسره وشي او يا له وېرې سره، چې له هغې سره هم بايد مبارزه وشي. په اديانو کې عبادت يوازې يوه ملامله ده؛ ځکه اديان انسانان، چې جنت ته ولاړ شئ او له دوزخه به وژغورل شئ جنت؛ يعنې هغه ځای، چې پکې ډول ډول خوندونه دي، حورې دي، بې مستۍ شرابونه دي، "جنات تجري من تحتها الانهار" دي او ډول ډول جنتي خواړه او مېوې دي؛ نو څوک چې د آخرت د خوندونو لپاره د دنيا له خوندونو سترګې پټوي؛ نو نه يوازې الله تعالی لمانځی نه

دی او د خپلې دعا حس نه پیاوړی کوي؛ بلکې هغه انسان دی، چې تر نړۍ لمانځو هم ډېر توکیز دی؛ ځکه یو نړۍ لمانځی انسان د همدې دنیا په محدودو خوندونو قانع کېږي؛ خو هغه یو حساب‌پال دی؛ حسابوي، چې که وغواړي د دنیا څلوېښت کاله عمر په خوندونو کې تېر کړي؛ نو ډېر خوندونه یې نه دي اخستي او بالاخره به پای ته ورسي؛ نو له ځان سره وایي: په دې څلوېښت کالو کې به په ځان سخته تېره کړم؛ نو په هغه دنیا کې به تلپاتې خوندونو ته ورسم؛ نو دې کار ته هڅونکی یې تمه ده او هغه، چې د دوزخ له وېرې گناه نه کوي، هم همداسې دي؛ نو په ادیانو کې د انسان د دعا او عبادت حس ته پام نه دی شوی او دا نیوکه ډېره مسیحیان د اسلام په هکله کوي، چې په قرآن کې توکیزو نعمتونو ته ډېر پام شوی دی.

دا نیوکه بېځایه ده. لومړی داچې پوهېږو په اسلام کې عبادتونه خپلې درجې لري، چې یوه درجه یې د جنت لپاره عبادت دی او بله درجه یې له دوزخه د ژغورنې لپاره عبادت دی او له دې پورته هم درجې شته چې موخه یې جنت او دوزخ نه وي، چې دا مسله په قرآن او سنتو کې خورا ویل شوې ده.

حضرت علي وایي:

ان قوما عبدوا الله طعما فتلك عبادة التجار، وان قوما عبدوا الله خوفا فتلك عبادة العبيد، وان قوما عبدوا الله شكراً (حباً) فتلك عبادة الاحرار[١٢].

ځينې خلک د الله تعالی عبادت جنت د تمې لپاره کوي، چې دا تجارت ډولی عبادت دی؛ دلته کار کوي، چې هلته یې ګټه واخلي او ځینې د دوزخ له وېرې عبادت کوي، چې د دوی دا کار مریانو ته ورته دی، چې د کوړې او وهلو له وېرې عبادت کوي.

بله ډله نه د جنت د تمې لپاره او نه د دوزخ له وېرې عبادت کوي؛ بلکې د شکر لمونځ کوي؛ یعنې خپل الله تعالی پېژني، الله تعالی یې چې وپېژانده؛ نو څه چې لري، د الله تعالی یې ګڼي او ددې لپاره، چې هر څه د الله تعالی ګڼي؛ نو د شکر ایستنې حس یې عبادت ته اړ کوي؛ یعنې که نه جنت وي او نه دوزخ؛ نو هماغه د الله تعالی پېژندنې او د شکر ایستنې حس یې عبادت ته هڅوي، چې دا د احرارو او ازادو خلکو عبادت دی.

---

[١٢] **(نهج البلاغه/٢٢٩ حکمت)**

هغه اولنی د خپلې تمې بنده دی، دویم د خپلې وېرې بنده او دریېم د وېرې او تمې له بنده خلاص او ازاد دی.

## حضرت علي (كرم الله وجهه) او د دعا روح

خبره مې داده، چې په اسلام کې د عبادت او دعا روح ته خورا ارزښت ورکول شوی او دا دوه درې حدیثونه مې، چې بېلګې ته راوړل په څېر يې خورا روايتونه دي. امير المؤمنين علي بن ابيطالب وايي:

الهی! ما عبدتک خوفا من نارک و لا طعما فی جنتک بل وجدتک اهلا للعبادة فعبدتک.

خدايه! د دوزخ له وېرې او جنت ته د تمې لپاره دې عبادت نه کوم؛ بلکې ځکه دې لمانځم، چې ته مې د عبادت وړ ولیدې[13].

د "کمیل" دعا سر تر پایه په لوړه مانا دعا ده. تاسې به په دې دعا کې نه د جنت تمه وګورئ او نه له دوزخه وېره.

اسلامي دعاوې ـالبته ناشونې ده، چې ټولې دعاوې په یوه سطحه وي_لوړ مضامين لري. په روايتونو کې لاندې دعا د ((مناجات شعبانيه)) په نامه راغلې، چې حضرت علي (كرم الله

---

[13] (بحارا لانوار ۱۰۱/٤١)

وجهه) او امامانو به دا دعا ویله، د امامانو په سطح دعا؛ يعنې په ډېره لوړه سطح. انسان، چې کله دا دعا لولي؛ نو پوهېږي، چې په اسلام کې د دعا روح څه ته وايي.

الهی! هب لی کمال الانقطاع الیک و انز ابصار قلوبنا بضیاء نظرها الیک حتی تحرق ابصار القلوب حجب النور فتصل الی معدن العظمة و تصیر ارواحنا معلقة بعز قدسک.. . الهی والحقنی بنور عزک الابهج فاکون لک عارفا و عن سواک منحرفا.

ددې ماناوو انځورونه هم موږ ته ستونزمنه ده.

د ابوحمزه ثمالي دعا هم همداسې ده. د امام زين العابدين دعا، چې په مناجات ((خمسة عشر)) مشهوره ده، هم همداسې ده. مناجات خايفين، مناجات ذاكرين، مناجات طالبين.. . . دومره لطيفې او لوړې ماناوې لري ، چې انسان حيرانوي. په خپله نهج البلاغه هم له داسې مطالبو ډکه ده، چې يوه برخه يې راخلو:

امام علي (کرم الله وجهه) کميل ته وايي: خلک درې ډلې دي: رباني عالم، متعلمان او همج رعاع.

بيا امام وايي: ډېرې خبرې راسره دي، چې وړ يې نه پيدا کېږي. وګړي ويشي او وايي: ځينې ډېر هوښيار وي، پوهېږي؛ خو ډاډ پرې نه وي او همدوی د دنياپالنې وزله کوي. ځينې ښه خلک

دي؛ نو ناپوه او ډرپل دي او درک نه لري او زه به چا ته ووايم او آخر به هم خپله پوهه له ځان سره قبر ته يوسم. وړ يې نه پيدا کيږي او بيا ددې لپاره، چې ټول نهيلي نه کړي، وايي:
اللهم بلى لا تخلوا الارض من قائم لله بحجة اما ظاهرا مشهورا و اما خائفا معمورا.. . . و يزرعوها فى قلوب اشباههم.
د مضمون لنډيز يې دادی، چې تل يوه ډله وي، چې الله تعالی په دوی د وړ خلکو په زړونو کې معنويات او حجتونه کري او بيا په هکله يې وايي: هجهم بهم العلم على حقيقة البصيرة؛ علم د بصيرت د حقيقت په مانا يرغل کړی (معلومه ده، چې افاضي علم دی نه اکتسابي). وباشروا روح اليقين؛ يعنې د يقين روح ته رسېدلي. و استلانوا ما استوعره المترفون؛ هغه څيزونه ورته ډېر اسان دي، چې د مزوچړچو خاوندانو ته درانده او کلک دي. و انسوا بما استوحش منه الجاهلون؛ له هغو څيزونو سره مل وي، چې ناپوهان ترې ډارېږي.

## دعا ته د الله تعالی اجازه اعتباري نه ده

د دعا په چار کې د څښتن تعالی اجازه اعتباري نه ده؛ یعنې د هغو اجازو په څېر نه ده چې مدیران یې خپلو مامورینو ته ورکوي؛ بلکې له آره د الله تعالی او مخلوق ترمنځ تړاو، د خالق «اذن» او اجازه د مخلوق جوړښت ته ورګرځي. یعنې کله چې ویل کېږي، الله تعالی اجازه راکړې چې ویې بلو، په دې مانا ده چې داسې یې پنځولي یو چې کړای شو او بلکې ځوبمن او لېوال یو، چې ویې بلو. یعنې الله تعالی انسانان داسې پیدا کړي چې هم یې بلنې ته اړمن دي او هم ورته لېوال دي:

این طلب در ما هم از ایجاد تُست

رستن از بیداد یا رب داد توست

این دعا از تو، اجابت هم ز تو

ایمنی از تو، مهلت هم ز تو

## دعا مازې د انبیاوو ښوونه ده

انسانانو «دعا» ابداع او رامنځته کړې نه ده؛ بلکې دا چار د الله تعالی له ښوونو او ابداعاتو څنې دی، که پېغمبرانو خلکو ته

ورزده کړي نه وای، چې الله تعالی بللی شو، انسانانو دا طریقه موندای نشوه. «دعا هم ستا ډالۍ، ورکړه او ښوونه ده.[١٤]»
نوځکه الله تعالی نه یوازې انسانانو ته اجازه ورکړې چې ویې بلي؛ بلکې دې چار ته یې هڅولي هم دي. کله چې عارفان او له دې ځنې مولوي وایي چې دعا او اجابت یې دواړه د الله تعالی له لوري دي، په دې مانا دي چې هم اجازه او د دعا فرمان د الله تعالی له لوري دی او هم انسانان چې له الله تعالی سره د خبرو کولو کوم شوق لري، دواړه د الله تعالی ابداعات او غوښتنه ده او البته اجابت او قبلول هم د الله تعالی په رئوفو لاسونو کې دي.

## دعا په مینې پورې اړه لري

له چا سره ناسته پاسته او خبرې کول او ترې خوند اخستل، په دې پورې اړه لري چې زړه یې درنه تښتولی وي. لومړی باید زړه وتښتول شي چې ورپسې په انسان کې د خبرو اترو شوق پیدا شي. په همدې وخت کې انسان د محبت له بلونکي او سائق سره د خبرو کولو ډېره ځوبتیا مومي:
همه جمال تو بینم چو چشم باز کنم

١٤ (مثنوي، دويم دفتر، ۲۴۴۹)

همه شراب تو نوشم چو لب فراز کنم
حرام دارم با دیگران سخن گفتن
و چون حدیث تو آید سخن دراز کنم
هزار گونه بلنگم به هر رهم که برند
رهی که آن به سوی تواست ترکتاز کنم[۱۵]

د انسان له ځینو کسانو سره خبرې کول ښه نه ایسي او له ځینو سره یې یوازې خبرې کول ښه ایسي. د خبرو کولو شوق د روحي موانست او مجانست په پار دی:

بلبل از فیض گل آموخت سخن ورنه نبود
این همه قول و غزل تعبیه در منقارش
ټول عشقونه او هنرونه چې له الله تعالی ځار شوي، د ړومبی زړه تښتونې زوکړه ده او که زړه تښتونه او دلربایي نه وه او که الله تعالی د پنځون له پیله انسانانو ته د جمال ښنده ښوولې نه وای؛ نو په نړۍ کې دا گردې ویناوې، غزلیات او زړه راولاړوونکې خبرې نه رامنځ ته کېدې:

---

[۱۵] (د شمس کلیات، ۱۷۳۴ غزل)

گر عشق نبودی و غم عشق نبودی
چندین سخن نغز که گفتی که شنودی؟
ور باد نبودی که سه زلف ربودی
رخساره معشوق به عاشق که نمودی؟[۱۶]

الله تعالی چې خلکو ته د دعا اجازه ورکړې، دا اجازه په دې مانا ده چې له یوې لوري یې انسانانو ته خپله څېره پرانستې او بلخو انسانانو ته یې د هندارې په څېر زړه ورکړی چې د جمال قصې یې وکړای شي. د الله تعالی حکم د مشتاقانو او څوبنو پر زړونو خوږ او خوندور دی؛ نوځکه یې دروند مکلفیت نه ننګېري؛ بلکې یو ډول ترغیب او هڅونه یې مومي.

خو داسې کسان هم ډېر دي چې له دې درګاه دفع کېږي، جاهلان، ناپوهان او بدنامي د یا رب ویلو د ستور نه مومي، نه یې اجازه لري او او نه ورته څوبتیا:

جان جاهل زین دعا جز دور نیست
ز آنکه یا رب گفتنش دستور نیست

---

[۱۶] - **شهاب الدین سهروردی، فی حقیقة العشق.**

## هغوی چې د دعا ذوق نه مومي د الله تعالی له درشله شړل شوي

دا ډول وګڼي ان که الله تعالی په تکلف هم وبولي، په ځان کې د مناجاتو او دعا ذوق نه مومي او دا يې د شړولو او دفع غوره نښه ده. که څوک وغواړي او راوبلي، نښه يې دا ده چې لار ورنژدې کوي او ګام اخستل يې ور اسانوي او کله چې څوک شړي، ورونه يې پر مخ ورتړي او له حق سره په خبرو کولو کې لږ کوټې ذوق هم ورته نه پرېږدي.

په دې حالاتو کې انسان بايد خپل روح ته رجوع وکړي او د خپل دنننی احوال پوښتنه ګروېګنه وکړي. دا ذوقونه يا ناذوقونه، دا خوندونه يا بې خوندی، دا روښنايي يا تيارې بې سببه نه دي. بايد خپل حالات لار پېژاندو ته ور وړاندې کړي او البته نبايد استدراج او د څښتن تعالی مکر له يادوه وباسو.

## دعا د بندګۍ ښودل دي نه د ژوند وزله

د اصولو له مخې، دعا کول د بندګۍ ښودل دي نه د ژوند وزله. نه يې دې ويلي چې دعا وکړئ چې له لامله يې خپل ژوند خوندي او تامين کړئ دا شته؛ خو تردې خورا ډېر هم شته.

هر که کارد قصد گندم باشدش

کاه خود اندر تبع مي آيدش
قصد در معراج ديد دوست بود
در تبع عرش و ملايک هم نمود

په معراج کې اصلي موخه له الله تعالی سره ديدار و، که څه په ترخ کې يې پرښتو هم ځانونه پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ته وروښودې.

دعا د اصولو له مخې له الله تعالی سره د انسان مؤانست، ورسره له ملګرتوبه خوند اخستل او په دې ناسته پاسته کې د ځان موندل دي. دعا له الله تعالی سره د رښتوني او عابدانه مينې يو ډول تجربه ده؛ خو البته په دې مينې کونې، ناستې پاستې او مجالستونو کې، يو لړ اغېزې او نور ثمرات هم رادبره کېږي. ظاهر ويني يې يوازې جنبي ګټو ته ورماتيږي؛ خو واقع ويني له دې مجالستونو او مؤانستونو اوچت خوند او نعمت نه مومي:

خلاف طريقت بود کاوليا
تمنا کنند از خدا جز خدا
گر از دوست چشمت بر احسان اوست
تو دربند خويشی نه در بند دوست

## له ټولو ځنې د دعا اوچته مرتبه غوښتل شوې نه ده

البته له ټولو یې غوښتي نه دي چې د الله تعالی په تړاو دومره استغراق او مجذوبیت ولري تردې چې له احسانه یې غافل شي؛ خو انسانانو ته یې ور زده کړي چې ټول انسانان په یوه مرتبه کې نه دي؛ بلکې ځینې د الله تعالی ځانګړي بندګان له ړومبیو مراتبو اوچتېږي او پورته مرتبې یې پر برخه کېږي.

## د دعا اوچته مرتبه

عارفانو له یوې مرتبې خبر کړي یو چې تر دعا اوچته مرتبه ده او یوازې د یو شمېر نوادرو بندګانو پر برخه کېږي. په دې مرتبه کې اجازه، اذن او فرمان پر خپل ځای دی؛ خو د انسان احوال دا دی چې خپله په دعا خوله نه پرانځي،

یعني په دې مقام کې وګړی له هستۍ وتلی یا د هستۍ پر وړاندې نه دی؛ بلکې د هستۍ د غونډال (نظام) یوه برخه ده. لږ تر لږه وګړی په یو نادر حالت کې، ځان د هستۍ یوه برخه بولي؛ نوځکه پکې د یو چار د بدلون شوق او غوښتنه نه رامنځته کېږي. په دې مرتبه کې څه چې په هستۍ یا پر ده تېرېږي، داسې په عین اړتیا او مصلحت (او په حقیقت کې، د الله تعالی له سترګو) ویني چې

ته وا هر څه پر خپل ځای دي؛ نوځکه د یوه بې ځایه چار د لاس ته راوړو لپاره پکې د دعا حالت نه رادبره کېږي. دعاوې د تغییر او بدلون لپاره دي. که څوک د هستۍ ضروري نظام څنګه چې دی وویني، نو تغییر یا د تغییر غوښتل به ورته مانا ونلري. دا هم یو حالت دی، که څه تجربه یې موږ ناقصانو او نیمګړو ته ستونزمنه ده؛ خو کاملانو رازده کړي چې د عملي کېدو وړ ده او حقیقت لري.

ز اولیا اهل دعا خود دیگرند
که همی‌دوزند و گاهی می‌درند
قوم دیگر می‌شناسم ز اولیا
که دهانشان بسته باشد از دعا
از رضا که هست رام آن کرام
جستن دفع قضاشان شد حرام
در قضا ذوقی همی‌بینند خاص
کفرشان آید طلب کردن خلاص
حسن ظنی بر دل ایشان گشود
که نپوشند از عمی جامهٔ کبود

يو وګړي ته دعا کول هله مانا لري چې له هستۍ سره يو ګونی توب نه ننګېري او ځان يې پر وړاندې او پکې متصرف مومي، که دا تقابل محوه او لرې شي او وګړي ته له ګرد نظام سره يو ډول يوګوني توب ترلاسه شي، نو دعا کول يې بېله مانا مومي، که څه په ظاهره يې دعا کول د نورو دعاوو په څېر وي. په دې حالت کې نو موږی بې خوده دعا کوي چې په حقيقت کې د الله تعالی دعا ده نه د ده:

آن دعا بيخودان خود ديگر است
آن دعا زو نيست گفت داور است
آن دعا حق می کند چون او فناست
آن دعا و آن اجابت از خداست
چون خدا با خود دعا و کد کند
پس دعای خويش را چون ردّ کند؟

## د دعا مرتبې د انسانانو له روحي مراتبو سره اړه لري

دا ټکی مو ووايه چې معلوم شي د دعا بېلابېلې مرتبې د انسانانو د روحونو او زړونو له بېلابېلو مرتبو سره تړاو لري، ټول زړونه او اروا يي يو رنګ او په يوه مرتبه کې نه دي؛ نوځکه دعاوې يې

هم په یوې مرتبې او یو ډول نه دي. د وګړیو دعاوې د کړنو په څېر یې د خپل ضمیر له منځپانګې سره پوره تړاو لري.

## دعا د معرفت مېوه ده

تردې مهمتر، له الله تعالی سره د انسانانو خبرې کول، له الله تعالی سره یې د پېژندنې پېبره (محصول) ده؛ یعنې انسان چې له خپل مخاطبه کومه انګېرنه لري، له مخې به یې د خبرو کولو ډول او ادب توپیر وکړي.

پیغمبرانو ټول دعا کولو ته رابللي دي. هېڅوک له دعا او د الله تعالی د لورنې او ښښنې له غوښتو مستغني نه دی، ټول نیغ په نیغ له الله تعالی سره خبرې کړای او خپلې اړتیاوې ترې غوښتای شي. هېڅوک له دې چاره بې برخې نه دي. الله تعالی ته دعا کول، شفیع ته اړتیا نلري، ټولو ته د دعا ور پرانستی دی. شفیعان دا ور نه پرانځي، دا ور تل پرانستی دی؛ خو شفیعان په دې علت چې له اختیاراتو او توفیقاتو برخمن دي، الله تعالی ته د ځینو نېکمرغو انسانانو لار ښه ورنژدې کولای شي. د شفاعت او سپارښتنې نظام په دې دنیا او هغې دنیا کې چلېږي او یو داسې چار نه دی چې په بلې نړۍ پورې ځانګړی وي.

## د څښتن تعالی له لورنې او کرم څخه نهیلي ستره گناه ده

الله تعالی انسانانو ته پلمه نه لټوي چې دوزخیان یې کړي او یا ورسره لاس و گرېوان شي او پر ځمکه یې راگوزار کړي، جنت په پلمه ورکوي نه په بیه. انسانان ټول د الله تعالی بندگان او مخلوقات دي. الله تعالی تعالی ته ورگران دي او د الله تعالی تعالی دوستي، د ده د جواد او کرم تجلي ده[۱۷]. په همدې دلیل یې پخپله انسانانو ته ورزده کړي چې بیخي د الله تعالی له رحمت او

---

[۱۷] اورېدوني ده چې محي الدین عربي، د اسلام له اهمو او مشهورو عارفانو په خصوص الحکم کې په یونسي فص کې راوړي: «اعلم ان الشفقه علی عبادالله احق بالرعایه من الغیره فی الله» وروسته وایي: «داوود علیه السلام څو ځل بیت المقدس جوړ کړ او ویجاړ شو. خدای ته یې گیله وکړه، خدای وویل خونه مې د وینو تویوونکیو په لاسونو نه ټینگېږي. ویې ویل: ایا د دوی وینه مې ستا په لار کې تویه نه کړه. خدای وویل: هو، ولکنهم ألیسوا عبادی (ایا بندگان مې نه وو).

لورنې دې نهیلي نه وي او کله دې هم نه ګڼي چې کار یې نه ماتېدونې ډېر او لا درمله رنځورۍ ته وررسېدلی دی.
خلک له کریم الله تعالی سره مخامخ دي؛ نوځکه باید خپله درملنه اسانه ووېني الله تعالی سختګیري نه کوي او د خپلو بندګانو تر دباو او فشار لاندې نیوو لپاره دلیل نه راولي. تل مهلت ورکوي چې د بندګانو لپاره ستنېدا ته مجال چمتو وي. هغه مهال چې کوم بنده ګناه وکړي، ستاري کوي او پر عیبو یې پرده اچوي، او په دې کار انسانانو ته هم ورزده کوي چې ستار اوسي او د نورو عیب رابرسېره او پرده یې څېري نه کړي. کله چې بنده ورستون شي، ور نه تړي او سخت شرایط ورته نږدي، په خورا مینه یې مني او اصلاً پخپله شرایط ورته چمتو کوي. د مولانا په وینا:

چون خدا خواهد که پرده کس درد
میلش اندر طعنه پاکان برد
ور خدا خواهد که پوشد عیب کس
کم زند در عیب معیوبان نفس
چون خدا خواهد که مان یاری کند
میل ما را جانب زاری کند

داسې ګناه او عیب نشته چې انسان تل د الله تعالی له نظره وغورځوي. البته انسانان باید د خوف و رجا (ډار او هیلې) ترمنځ ژوند وکړي او هوښیار وي، هسې نه یو کار وکړي چې ناخبری ځان د الله تعالی له سترګو وغورځوي. دا، د هر هوښیار سالک همېشنی ډار دی چې هسې نه وجود یې دومره رنځور او ککړ شي چې درملنې ته یې هیله نه وي. خو په عین حال کې بنده کله هم حق نلري چې د الله تعالی پر وړاندې خپل کار سرته رسېدلی وبولي او فکر وکړي چې ان د الله تعالی لورین لاسونه یې هم پاکولای نشي، د الله تعالی له لورنې نهیلي له سترو ګناهونو څنې ده. دابو حمزه ثمالي په دعا کې مو ولوستل چې:
وایّ جهلٍ یا ربّ لا یسفه جودک و ایّ زمانٍ اطول من اناتک...
:.
«الله تعالی! ایا داسې خطا شته چې ستا له وجوده لویه وي او ایا داسې وخت شته چې ستا له اوږده زغمه لا اوږد وي. »
یا د علي کرم الله وجهه په تعبیر الله تعالی یوه ګناه هماغه یوه ګناه شمېري؛ خو یوه حسنه (نېکي) لس حسنې بولي او لس ګرایه یې بدله ورکوي (وحسب سیئتک واحدة وصسب حسنتک

عشراً) دا تعبير له قرآن حکيم څخه اخستل شوی دی. الله تعالی په قرآن حکيم کې وايي:
مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلاَ يُجْزَى إِلاَّ مِثْلَهَا[18]= چاچې ښه کار راووړ؛ نو لس گرايه يې ثواب ورکول کيږي او چاچې بد کار راووړ؛ نو د همدې بدو هومره به سزا ورکړه شي.
ولې نېکۍ د لسو په ضريب کې ضربيږي؛ خو بدياني نه ډېريږي؛ په ساده تعبير ولې نېکي برکت مومي، ډېريږي او څربيږي؛ خو بدي څومره چې وې پاتيږي؟ ولې بدۍ د نېکۍ په پرتله د زوال په درشل کې دي:
إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ[19]= ځکه نېکي، بدي (او اغېزې يې) له منځه وړي.

او ان کله بدي پر نېکۍ اوړي:

---

[18] (انعام/١٦٠)

[19] (هود/١١۴)

فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ (فرقان/۷۰) = نو الله يې بدي پر نېکيو اړوي.

يعني ته وا ګټه خو هغوی وکړه چې ډېره بدي يې کړې وي؛ ځکه د تبدېلۍ له وجهې، ډېره نېکې يې پر برخه کېږي! دا د توبې کيميا ده چې بدي پر نېکۍ اړوي او که چا د توبې توفيق و موند؛ يعنې په مړانه د ځان پر ضد پاڅي، د خاورو غونډۍ د سرو زرو پر غونډۍ اړولای شي او له رذايلو څخه فضايل جوړ کړي:

کاملی گر خاک گیرد زر شود

ناقصی ار زر برد خاکستر شود

هو، د دې مطلب يوه مانا او مدلول دا دی چې د الله تعالی وجود، لطف او لورنه پلمه پيدا کوي چې انسانان جنتي کړي او له جهنمه يې وژغوري:

بانگ می آمد که ای طالب بیا

جود محتاج گدایان چون گدا

لکه څنګه چې ګدايان جود ته اړمن دي، جود هم ګدايانو ته اړمن دی او هر ځای په اړمن پسې ګرځي، چې څه ورکړي. د الله تعالی د جواد والي او کريم والي لازمه همدا ده. د الله

تعالی جود، هم اړمن پنځوي او هم د اړمن اړتیا ورپوره کوي؛ یعنې دوه غوښتنې لري:

ان یکی جودش گدا آرد پدید
و ان دگر بخشد گدایان را مزید

او همدا په افتتاح دعا کې د دې پرمانا جملې مانا ده چې:

یا من لا یزیده کثرة العطاء الا جوداً و کرماً

«ای لوروونکیه، چې څومره ډېره لورنه کوې، لورنه دې ډېرېږي.
»

دا له دې لامله ده چې څومره اړمن ډېرېږي د اړتیا لرې کونه به هم ډېره شي.

## الله تعالی له خپلو بندګانو سره تر عدل څخه ډېر په جود وکرم معلامله کوي

د الله تعالی جود وکرم د څښتن تعالی تر عدل او د موجوداتو تر استحقاق څخه جلا دی. الله تعالی عادل دی؛ یعنې مستحقانو ته یې د استحقاق هومره ورکوي، تبعیض او ظلم نه کوي. دا چار د الله تعالی د عدل غوښتنه ده؛ خو د الله تعالی جود و کرم تردې وراوچت دی. الله تعالی د مستحقانو تر استحقاق ډېر، ان بې

استحقاقه ورکړه کوي او بلکې خپله پنځون، کریمانه دی نه عادلانه؛ څکه د مولانا په وینا:
«د الله تعالی داد ته وړتیا شرط نه ده » او که الله تعالی غوښتل چې د استحقاق له مخې شیانو ته شتون او وجود وروبښي، هېڅ څیز نه موجودېده؛ څکه په عدم کې استحقاق نشته:
قابلی گر شرط فعل حق بُدی
هیچ معدومی به هستی نامدی
در عدم ما مستحقان کی بدیم
که بر این جان و بر این آتش زدیم
ما نبودیم و تقاضامان نبود
لطف تو ناگفته ما می شنود
همدا جوادیت او کریمیت دی چې گناهونه او بدي نه ډېروي. د الله تعالی د کار بهیر دا نه دی که چا یوه گناه وکړه او یو گام لرې شو؛ نو لس گامه یې شاته وغورځوي؛ بلکې اپوټه، که چا د الله تعالی پر لور نیم گار پورته کړ او لږ ښه کار یې وکړ؛ نو دا نیک کار په لوړو ضرایبو کې ضربوي او دې کار ته یې تر استحقاق ډېر اجر ورکوي او په دې توگه د بنده سست حرکت په گړندي

حرکت اړوي او ژر يې مطلب ته رسوي. بيا د ابوحمزه په دعا کې راغلي چې:

و انّ الراحل اليک قريب المسافة و انّک لا تحتجب عن خلقک الا ان يحجبهم الا عمال دونک

«پوهېږم، څوک چې ستا پر لور سفر کوي، لار لنډه ده او ته له خپلو مخلوقاتو نه پټېږې؛ خو داچې د بندګانو کړنې، دوی درنه لرې کړي.»

دا په دې شرط مشروط دي چې انسان سفر پيل کړي؛ بيا به وګوري چې لار څومره لنډه او نژدې ده.

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ[20]= او هغوی چې (په پاك نيت) زموږ په (لار کې) هلې ځلې وکړي؛ هرومرو خپلې لارې وروښيو او بېشکه الله د نېکانو مل دی.

«جنت په پلمه ورکوي نه په بيه.» د انسانانو چارې ترډې خورا ډېرې لرې دي چې د الله تعالی ستر نعمتونه يې په برخه شي:

اين همه گفتيم ليک اندر بسيچ

بی عنايات خدا هيچيم هيچ

---

[20] (عنکبوت/٦٩)

بی عنایات حق و خاصان حق
گر مَلَک باشد سیاه استش ورق

په «صحیفه سجادیه» دعاوو کې هم راغلي چې امام سجاد الله تعالی ته وايي:

يا إِلهي لَوْ بَكَيْتُ إِلَيْكَ حَتّى تَسْقُطَ أَشْفارُ عَيْنَيَّ، وَانْتَحَبْتُ حَتّى يَنْقَطِعَ صَوْتي[٢١]

که د یوې ګناه په پار خپل ټول عمر په ژړا او چغو تېر کړم، که ایرې او خړې اوبه وڅښم، که دومره رکوع وکړم چې د ملا تیر مې مات شي، په دې یوې کړنې به هم د یوې ګناه د عفوې مستحق نشم، دا ځکه د الله تعالی د فرمان ماتول او د الله تعالی حضور او څارنه نالیدلي ګڼل دومره ستر او هولناک دي چې یو عمل یې هم مینځلای او ځنډلای نشي؛ یوازې ستا جود دی چې ګناهونه مینځلی او له منځه وړای شي.

## الله تعالی د چا پوروړی نه دی

هر څوک یو کار کوي او ښه چار ترسره کوي، الله تعالی یې پوروړی نه دی او پر الله تعالی څه حق ورباندې نلري؛ ځکه څه

---

[٢١] (صحیفه سجادیه، شپاړسمه دعا)

چې انسان کوي د الله تعالی ورکړه او عطیه ده. د بشر اختیارات، واک، قوت، شونتیاوې او توفیق ټول د الله تعالی دي. پېغمبران ول چې خلکو ته یې ښه او بد ورزده کړل او خلک یې نېکیو ته راوهڅول. الله تعالی پخپله اجازه کړې چې ویې بلئ او خپله یې د یوې نېکۍ پر وړاندې دوه گرایه بدله ټاکلې ده او بیا هم ځان د خپلو بندگانو پوروړی بولي؛ نوځکه په ټول کې څه چې په هستۍ کې تېرېږي په یو غږ گواهي ورکوي چې د الله تعالی د کرم ورونه پرانستي دي او بې برخې هغه دی چې دننه ورنشي او ښه برخمني ترلاسه نه کړي. کله دا بې برخېتوب، ابدي دی او پر ابدي محرومانو دې افسوس وي. د الله تعالی د رحمت پېغام په «بسم الله الرحمن الرحیم» آیت کې اورېدای شو. کله چې موږ انسانان خپل الله تعالی د لوراند او لورین په نامو بولو، یوه نړۍ اشارتونه، عنایت او لورنې پکې رانغاړلې مو مو. د الله تعالی رحمت غواړي چې انسانان یې درشل ته استرحام وکړي او پر لور یې وروځغلي:

بانگ آبم من به گوش تشنگان
همچو باران می رسم از اسمان
بَرجَه ای عاشق بر آور اضطراب
بانگ آب و تشنه و انگاه خواب

اوربښت چې وربېږي او چېلو ته وايي چې خپلې چېلې ووينځئ؛ نو د عقل شرط دا نه دی چې له دې نعمته ګټه پورته نه کړي، د مولانا په وينا:

آب گفت آلوده را در من شتاب
گفت آلوده که دارم شر شرم از آب
گفت آب این شرم بی من که رود
بی من این آلوده زایل کی شود؟
تو مرا گویی که از بهر ثواب
غسل ناکرده مرو در حوض آب
از برون حوض غیر خاک نیست
هر که او در حوض ناید پاک نیست
گر نباشد آبها را این کرم
کو پذیرد مر خبث را دم به دم
وای بر مشتاق و بر امید او
حسر تا بر حسرت جاوید او
آب دارد صد کرم صد احتشام
که پلیدان زا پذیرد والسلام

## د هستۍ نظام د حسناتو پالنه کوي او سيئات خوارووي

د حسناتو لس گرايه کېدنه، يو بل مدلول هم لري او هغه داچې هستي داسې جوړه شوې چې بدي او چټلي خوارووي او وزرې نه ورکوي. د دنيا بهير له بديو سره پر سازگارۍ ولاړ نه دی.

هستي او خاوند يې بدي نه خوښوي، شړي يې او د ودې او ډېروالي يې خنډېږي. په بديو کې برکت ايښوول شوی نه دي. نه يوازې خپله بدي او نېکي، چې د بد بدله او د نېکيو بدله هم دغسې دي.

## د نېکيو او بديو بدله او سزا هسې په هسې نه ده

نېکيو او بديو ته د الله تعالی بدله او سزا هسې په هسې، خوشې، چټي او اعتباري نه ده. دا بدله او سزا په هستې کې يوه عيني او حقيقي مانا لري؛ يعنې د هستۍ پنځون داسې دی چې د بديو تخمونه نه راټوکوي او د تلپاتې ودې اجازه نه ورکوي؛ خو په عوض کې، د هستۍ ټول جوړښت د نېکۍ د تخم له راټوکېدو او ودې سره موافقت او مساعدت لري. ايا شونې ده چې د الله تعالی يو ځيز ښه ايسي او د الله تعالی د مينناک نظر په برکت برکتي نشي او برکت ونه مومي. الله تعالی نېک دی او نېکي خوښوي

او بدۍ او چټلۍ يې خورا بدې ايسي؛ نوځکه هستي هم د خپل ښکلي او ښکلا خوښوونکي خاوند د صفت او ځانګړنې په لاروۍ، نېکه او نېکي خوښوونکې ده.
يعنې نړۍ هم نېکي برکتي کوي او زياتوي؛ نوځکه يوه نېکي لس ګرايه کېږي؛ خو يوه بدي په خپل چټلځي کې پاتېږي چې روسته له منځه ولاړه شي.

## پاکۍ، بدۍ هم له منځه وړي

له بديو روسته تر نېکيو کولو غوره توبه نشته، څوک چې يوه ګناه وکړي، توبه يې پر بدۍ له پښېمانۍ او بدۍ ته پر نه ورستنېدا سربېره، نېکيو ته اقدام هم دی. نېکۍ، بدي له منځه وړي او دا د هستۍ د نظام غوښتنه ده. قرآن حکيم د نېکو چارو او پاکو ګروهو په اړه همدا مانا را زده کوي:
ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا. . . . وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ مِنْ فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ يُثَبِّتُ اللَّهُ

الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ[22]= چې څرنګه الله "پاکه کلمه" (او سپېڅلې وینا) د (داسې) پاکې (او ښه ذاتي) ونې په څېر بېلګه راوړه، چې بېخ يې (په ځمکه کې) ښخ او څانګې يې په اسمان کې دي؛ چې پر هر (ټاکلي) وخت د خپل پالونکي په حکم خپله مېوه ورکوي، (همداراز) "خبيثه کلمه "(شرک او ناولې خبره) د بذ ذاتې ونې په څېر ده، چې [بېخ يې] د ځمکې له سره را ایستل شوی (او) ټينګه نه وي، الله مؤمنانو ته په دنيوي ژوند او آخرت کې هم په ثابتو ويناوو او ګروهو ټيکاو ور پر برخه کوي.

داچې الله تعالی مؤمنانو ته په دنيا و اخرت کې ټيکاو ورکوي، دليل يې دا دی چې يو نېک چار او يوه پاکه ګروهه، په ځان پسې ډېرې نېکۍ راوړي او انسان په خپل بهير کې ټينګوي او ټيکاو ورکوي او اپوټه، ناپاکه چارې او ناسمې ګروهې له پيله په زرګونو تکلفونو رامنځ ته کيږي او کله هم نه ټينګيږي او تل يې جرړې راوتلې دي.

[22] (ابراهيم/۲۴- ۲۷)

د هستۍ د نېک پالنې د قضاوت لپاره باید نړۍ او تاریخ یې یو ځای په پام کې ونیسو:

نوځکه هستۍ او نړۍ داسې ده چې نېکیو ته وزرونه ورکوي او بدیو ته د ودې مجال نه ورکوي. دلته له هستۍ مراد، ټوله نړۍ او تاریخ دی، نه یې کوشنۍ ټوټې او مقاطع. «للباطل جولة وللحق دولة». باطل کله راښکاره کېږي او ځان خپل ښیي، سترګې مړوي، عقلونه مرعوب او ډاروي او زړونه اېلوي؛ خو تلپاتې دولت یوازې د حق دی.

قرآن حکیم راته ویلي:

فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً وَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ[۲۳] = خو ځګ دباندې غورځي (او) له منځه ځي؛ خو څه چې خلکو ته ګټور دي [= اوبه یا سوچه فلز] په ځمکه کې تمېږي.

کله چې نړۍ نېکۍ ته وزرې ورکوي، بدله یې هم زیاتېږي او برکت مومي او کله چې بدي په خپل ګور کې ښخه شيي؛ نو بې حرکته او بې برکتېږي او البته سزا یې هم نه زیاتېږي، دا هم د الله تعالی د لورنې غوښتنه ده. د څښتن تعالی رحمت یوازې په بدله

---

۲۳ (رعد/۱۷)

او سزا کې تجلی نه کوي، بدله او سزا د هستۍ له برخو څخه دي. ړومبی، هستي او انسان دی، کړه وړه دي، نېکۍ او بدۍ دي او ورپسې يې بدله او سزا راځي. د هستۍ آريز جوړښت د رحمت او لورنې پر بنسټ دی او يو له غوښتنو او ثمراتو څخې يې دا دی چې بدي يوه سزا ووينې او نېکي لس گرايه بدله و مومي. دا خبره موږ انسانانو ته خورا هيلمنوونکې ده او دا هيله نېکانو ته ډېره غټه پانگه ده.

نيست دستوری بدينجا قرع باب
جز اميد الله اعلم بالصواب

## هيله په نړۍ کې د انسان يوازينۍ پانگه ده

رازده کړي يې دي چې دا ور په هيله وټکوو، هم د وره ټکولو فرمان راغلی او هم د هيلمنۍ او همدا په نړۍ کې د انسانانو پانگه ده. څوک چې نهيلی دی او د نهيلۍ له لامله يو ور هم نه ټکوي، نو له ژونديو څخې نه دی. ژوند د وره ټکول او هيلمنېدل دي:

حمد الله کين رسن آويختند
فضل و رحمت را به هم آميختند

په هستۍ کې هيله يوه بهترينه او مبارکترينه ځوړنده رسۍ ده چې انسانان بايد ورپورې ورځوړند شي او ځانونه پورته کړي چې د

اسمان ورونو ته ورسی او ور وتکوي. الله تعالی هیله راکړې او ولې انسانان له دې پېرزوينې، ښه ګټنه ونکړي او خپلې چارې سمې نه کړي؟ دا هيله د نړۍ په جوړښت کې پلې شوې ده. په هستۍ کې د بدلې او سزا نظام (يعنې يوې بدۍ ته يوه سزا او يوې نېکۍ ته لس ګرايه بدله) رازده کوي چې ګاندې (راتلونکي) ته هيلمن اوسو او ډاډمن اوسو چې ښه چار مو نه يوازې له منځه نه ځي چې زياتېږي هم او بد چاري هم و مومي چې هستي په کرکه ورته نه ويني او بدې چاري يې نه برکتي کوي. نېکان بايد پوه شي چې له هستۍ او خاوند سره يې پر يوې لوري ګام اخلي او که نن يې کار په زړه پورې پايله نه ورکوي، هرومرو به يې پايله راښکاره شي، دا تخم به بيخي د تاريخ په خاوره کې روست نشي او په پای کې خپل اثر او اغېز به راښکاره کړي.

د امام زمان د راښکاره کېدو مانا او په نړۍ کې د عدالت او نېکمرغۍ خپرېدل او د دې مانا چې نېکان به يوه ورځ له خپلو تېرو ښادمن شي او يوه هميشنۍ خوشحالي به ترلاسه کړي او د دې مانا چې بدچاری به د ناکامۍ ګوته پر خوله کړي او پر خپلو تېرو به افسوس کوي او د قيامت کبرا مانا بې له دې بل څه نه ده.

په نړۍ کې یو ډله د مارغانو په ښکار بوخت دي او بله ډله د مارغانو د سیوري په ښکار. هغوی چې د مارغه د ښکار پر کار بوخت دي، په نهایت کې به دا ښکار په لومه کې راګیر کړي او دا ورځ به یې د ښادمنۍ ورځ وي او هغوی چې د مارغه د سیوري په ښکاره پسې دي یو دمي به وویني چې روزګار یې ضایع شوی او څه برخه ورپاتې نه ده.

مرغ بر بالا و زیر آن و سایه اش
می دود بر خاک پرّان مرغ وش
ابلهی صیّاد ان سایه شود
می دود چندان که بې مایه شود

څیرک او د لیدانې خاوند ښکارچیان چې د هستۍ نظام پېژني او د ښکار په لټه کې دي، پوه دې شي که ان خپله یې مطلوب ښکاره ترلاسه نکړ، په پای کې به یې همدا ښکار په لومه کې راګیر شي او هڅې به یې خوشې اوعبث ولاړې نشي. نېکان دې ډاډمن اوسي چې نېکي به یې نه یوازې له منځه ولاړه نشي چې ډېره میوه ان تر انتظار وراخوا اغېزې او ثمرات به راوټوکوي؛ نو بدۍ دې دوی کله هم و نه ډاروي او نه دې وانګېري چې بدانو

دومره پر نړۍ لاسبرى موندلى چې جزيي نېکې چارې به څه اغېز ونلري.

نېکي يوازې په آخرت کې مېوه نه ورکوي؛ بلکې دلته يې هم ورکوي:
د هستۍ نظام او خاوند يې رازده کوي چې نېکۍ به ټولې سره جمع او سترۍ شي يو د بل تر څنګ به ډېرې جوړه کړي او بدي به يو بل خنثى کړي. د هستۍ خاوره نېکيو ته حاصلخېزه او مساعده ده، د څښتن تعالى د رحمت باران هم ورېږي؛ نوځکه د نېکۍ د ونې جرړې چې په ځمکه کې دي د سيوري ښاخونه به يې اسمان ته ور ورسي، يوازې په آخرت کې نه دي چې نېکۍ ډېرې بدلې وړي؛ بلکې دا نړۍ به هم د نېکيو په رڼا کې ګلبڼ (ګلستان) شي.

## فيلسوفان د ښو او بدو کړنو او د بدلې او سزا ترمنځ اړيکه يې د علت او معلول اړيکه بولي:

خو له دې ښوونې چې «د بديو سزا يوه ده او د نېکيو بدله لس ګرايه ده»

يو كلامي مطلب هم زده كولاى شو. د مبدأ او معاد د مسايلو په اړه د كلامي او فلسفي انددود ترمنځ اختلاف شته چې دلته هم خپل ځان ښيي.

فيلسوفان، هستي يو ضروري او اړين نظام ويني، څه چې را روسته راځي، سل په سلو کې د هغو څيزونو معلول او زيږنده ده چې له مخکې يې شتون درلود. معلولونه دقيقاً هومره ښکاره کيږي چې علتونه يې غواړي.

که بې له دې وي؛ نو د عليت نظام به ټکنی وي. فيلسوفان گروهن دي چې د بدلې او سزا نظام پوره د عليت په آر پسې ورځي. چاچې بد کار کړی، يوازې د دې بد کار په غوښتنه او څومره چې دا بد کار غوښتنه يا اقتضا کوي؛ نو سزا به وويني او چاچې ښه کار کړی، د دې نيکۍ د غوښتنې له مخې بدله ويني، نه ډېره او نه لږه. که له يو فعل (کړ) څخه راولاړې اغيزې د دې فعل له ځرنگوالي او څومره والي سره ټړاو ونلري، د عليت آر نفې او نقض شوی دی. حکيمانو په آخرت کې د انسانانو د بدلې او سزا او په نړۍ کې يې د ښو او بدو چارو ترمنځ ټړاو له همدې جنسه گڼلی دی. ته وا انسان په نړۍ کې ځان په يوه لرگي وهي؛ خو درد يې قيامت کې احساسوي:

ای دریده پوستین یوسفان
گرگ برخیزی از این خواب گران
ز آنکه فی بافی همه ساله بپوش
ز آنکه می کاری همه ساله بنوش
وعده فردا و پس فردای تو
انتظار حشرت آمد وای تو

هغه انسان چې په دنیا کې د مظلو مو یوسفانوجامې څیروي، په هغې دنیا کې به لیوه راپاڅي؛ یعنې لیوه توب یې په نړۍ کې د جامو څیرولو زیږنده او معلول دی. څوک چې په دې دنیا کې ځان او نورو ته د نن وسبا وعدې ورکوي او تسویف کوي، په هغې دنیا کې به یې عذاب د انتظار د ایستو په بڼه راښکاره شي:

وعده فردا و پس فردای تو
انتظار حشرت آمد وای تو

## د اعمالو او سزا د اړیکې په اړه د فیلسوفانه انګېرنې ستونزه

د سزا او بدلې او د ښه او بد چار ترمنځ د علت او معلول د اړیکې انګېرنه یوه مطبوع، خوندور او عقل منلې انګېرنه ده؛ خو دا انګېرنه یوه ستره ستونزه لري او هغه داچې د ښو بركتي توب او د

بدو بې برکتي توب به بې مانا شي، ځکه هر کار څومره چې اقتضا او غوښتنه کوي، اغېزې را ولاړوي.

که دا اغېز کړمن وي، عذاب نو مېږي او که خوندور وي، نعیم او جنت ورته ویل کېږي. د دې انګېرنې له مخې نور نشو ویلای چې څوک په دنیا کې ښه کار کوي؛ نو په هغې دنیا کې یې لس ګرایه بدله اخلي؛ بلکې باید ووایو چې بدله یې هومره ده چې نېک کار یې تقاضا کوي. هېڅ مانا نلري چې ووایو معلول د خپل علت لس ګرایه دی. [24] کټ مټ د دې په څېر دی چې څوک ووایي په لاس مې ګوزار وکړ؛ خو لس ګرایه درد مې راغلی؛

---

[24] **بده نه ده اشاره وکړو چې د لایب نیتس په څېر فیلسوفانو د انرژي د پایښت آر (یا د حرکت د مقدار د پایښت آر) له دې آره راسپړلی چې «معلول د خپل علت هومره دی». وګورئ ټول هغه کتابونه چې د میخانیک د تاریخ په اړه لیکل شوي او په تېره په لاندې کتاب کې د لایب نیتس ماده:**

**Gillesple, Audictionry of scientific Biography**

نوځکه مانا نلري چې ووايو په آخرت کې سزا ګانې د بدو چارو هومره دي؛ خو بدلې د ښو چارو لس ګرايه دي. که د علت او معلول اړيکه ومنو، د دې مطلب توضيح به اسانه نه وي.

## د يادو ستونزو حل لارې:

### لومړۍ حل لار:

دې ستونزاوارې ته دوه لارې شته.

لومړی لار دا ده چې له عليتي اړيکې نته (انکار) وکړو او د متکلمانو په څېر په اعتباري اړيکو قايل شو؛ لکه په نړۍ کې د انسانانو ترمنځ د اعتباري اړيکو په څېر. په دنيا کې تړون او قرارداد کړای شو او ويلی شو چې که چا ښه کار کړی وي، لس ګرايه بدله به اخلي او که چا بد کار کړی وي، سزا به يې لږه وي. په نړۍ کې ګرد مجازات او مکافات اعتباري دي. «اعتباري» پردې مانا چې خپله عمل په بدله او سزا پای نه مومي؛ نوځکه شونې ده څوک چې انسان ووژني او په دنيا کې له سزا وتښتي. «اعتباري سزا» يعنې داچې بل څوک رامنځته شي او د سزا وړ کس يعنې قاتل (د نيولو او د تور ثابتولو په شرط) لږ يا ډېر مجازات کړي. همدغسې د يو نېک چار بدله هم ده؛ نوځکه «اعتباري والي»

يعنې عمل، په ځان پسې بدله او سزا نه راولي او بايد بل څوک د تړاو له مخې لږه يا ډېره بدله او سزا عملي کړي.
ډېری متکلمانو، د آخرت نظام کټ مټ د دې دنيا له نظام سره ورته ګڼلی دی. د مبدأ او معاد له مسايلو دا ډول پوهېدنه او درک (يعنې د الله تعالی سزا او احسان د دې دنيا د عقوبت او احسان له ډوله ګڼل) ستونزې هواروي او ډېری ستونزې به هم راولاړې کړي.

**دويمه حل لار:**

ارواښاد ملا هادي سبزواري د اسفار په لمنليک او په اسرار الحکم کتاب کې د آخرت په هکله ښکلې جمله لري.
وايي چې «فی الجمله په دې پوه شه، څه چې په آخرت کې نه پاتېږي دنياويت دی. »[25] او البته نو موړی مسالې ته تفصيل نه ورکوي، همدومره وايي،

---

[25] - **ملا هادي سبزواري، اسرار الحکم، چاپ اسلاميه، تهران، ۱۳۹۲، ۳۳۴ مخ)**

آخرت هر څه چې دی، د دې دنیا احکام نلري او په همدې یې آخرت والی دی.
حق دا دی چې د حقوقو، قضا او د انسانانو د ټولنیز ژوند اعتباري نظامات د نړۍ له مهمو ارکانو څنې دي او که دنیاویت پاتې نشي، بیخي دوی هم نباید پاتې شي.
اوس که ونه غواړو دا متکلمانه تفسیر ومنو، چې آخرت د دې دنیا په قیاس نیسي، باید د دې مطلب فلسفي او عقل منلي تفسیر ته ووایو چې یوه حسنه (نېکي) داسې ده چې په نړۍ کې د نورو عواملو په مساعدت څو گرایه کېږي؛ نوځکه څو گرایه بدله هم اخلي او داچې سیئه (بدي) څو گرایه کېږي نه، د خپل ذات په غوښتنې ډېره سزا هم نه غواړي.[٢٦]

---

[٢٦] - دا تش یو وړاندیز دی، او لیکونکی منښته (اقرار) کوي چې د هستۍ د نظام فلسفي تفسیر هم، له ټکو او نیوکو تش نه دی او بلکې سر له سکولاریسمۍ راوباسي چې شرح یې موږ په «مبنا و معنای سکولاریسم» مقابله کې راوړی. مطلب د ډېر سوچ او تأمل وړ دی او د اشعریت او اعتزالیت قصه همداسې روانه ده.

## پینځه دېرشم لوست

بسم الله الرحمن الرحیم
ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم
و صلی الله علی سیدنا محمد و آله اجمعین

خپل زوی ته د علي کرم الله وجهه د لیک په شرح کې تردې ځایه رارسېدلي وو چې:

وَ فَتَحَ لَكَ بَابَ الْمَتَابِ وَ بَابَ الاِسْتِعْتَابِ فَإِذَا نَادَيْتَهُ سَمِعَ نِدَاكَ وَ إِذَا نَاجَيْتَهُ عَلِمَ نَجْوَاكَ فَأَفْضَيْتَ إِلَيْهِ بِحَاجَتِكَ وَ أَبْثَثْتَهُ ذَاتَ نَفْسِكَ وَ شَكَوْتَ إِلَيْهِ هُمُومَكَ وَ اسْتَكْشَفْتَهُ كُرُوبَكَ وَ اسْتَعَنْتَهُ عَلَى أُمُورِكَ وَ سَأَلْتَهُ مِنْ خَزَائِنِ رَحْمَتِهِ مَا لاَ يَقْدِرُ عَلَى إِعْطَائِهِ غَيْرُهُ مِنْ زِيَادَةِ الْأَعْمَارِ وَ صِحَّةِ الْأَبْدَانِ وَ سَعَةِ الْأَرْزَاقِ ثُمَّ جَعَلَ فِي يَدَيْكَ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِهِ بِمَا أَذِنَ لَكَ فِيهِ مِنْ مَسْأَلَتِهِ فَمَتَى شِئْتَ اسْتَفْتَحْتَ بِالدُّعَاءِ أَبْوَابَ نِعْمَتِهِ وَ اسْتَمْطَرْتَ شَآبِيبَ رَحْمَتِهِ فَلاَ يُقَنِّطَنَّكَ إِبْطَاءُ إِجَابَتِهِ فَإِنَّ الْعَطِيَّةَ عَلَى قَدْرِ النِّيَّةِ وَ رُبَّمَا أُخِّرَتْ عَنْكَ الْإِجَابَةُ لِيَكُونَ ذَلِكَ أَعْظَمَ لِأَجْرِ السَّائِلِ وَ أَجْزَلَ لِعَطَاءِ الْآمِلِ وَ رُبَّمَا سَأَلْتَ الشَّيْءَ فَلاَ تُؤْتَاهُ وَ أُوتِيتَ خَيْراً مِنْهُ عَاجِلاً أَوْ آجِلاً أَوْ صُرِفَ عَنْكَ لِمَا هُوَ خَيْرٌ لَكَ فَلَرُبَّ أَمْرٍ قَدْ طَلَبْتَهُ فِيهِ هَلاَكُ دِينِكَ لَوْ أُوتِيتَهُ فَلْتَكُنْ مَسْأَلَتُكَ فِيمَا يَبْقَى لَكَ جَمَالُهُ وَ يُنْفَى عَنْكَ وَبَالُهُ فَالْمَالُ لاَ يَبْقَى لَكَ وَ لاَ تَبْقَى لَهُ.

او پر مخ دې د توبې لار پرانستې ده، چې کله يې وبولې، غږ دې اوري او چې د زړه راز دې ورته ووايې؛ نو پرې پوهېږي؛ نو خپله اړتيا دې ورته ووايه او څه چې دې پر زړه وي، ورته يې ووايه. خپګان دې ورسره اوشاروه، چې درنه يې لرې کړي او په ستونزو کې دې مرستندوی شي. او د خدای د رحمت له زېرمو داسې

ځیزونه غواړه، چې یوازې هغه یې درکولای شي؛ لکه ډېر عمر، د بدن روغتیا او د روزۍ پراخي. بیا نو خدای د خپلو زړمو کونجیانې او د دعا کولو اجازه درکړې، په دعا د خدای د نعمت ورونه پرانستای شې، چې د الهي رحمت باران درباندې را وورېږي؛ کله هم د دعا د قبلېدو له ځنډه مه نهیلېږه؛ ځکه الهي ورکړه په نیت ده. کله د دعا قبلېدل ځنډېږي، چې د غوښتونکي بدله ډېره او د هیلمن ورکړه ډېره شي. کله څه غواړې؛ خو نه درکول کېږي؛ خو په دې یا هغې دنیا کې به ترې غوره درکړي او په دې کې دې خیر وه، چې څه یې در نه کړل؛ ځکه ډېرې داسې غوښتنې دي، چې که ومنل شي؛ نو د دین د پوپناه کېدو لامل به یې شي؛ نو غوښتنې دې داسې وي، چې ښکلا او نیکي یې درته پاتې شي او رنځ او سختي درځنې لرې کړي؛ نو نه د دنیا شتمني درته پایښت مومي او نه به ته د دنیا شتمنۍ ته پاتې شې.

**د تېرو مطالبو لنډیز:**

تېره وینه د دعا او توبې په اړه وه او توضیح مو کړه چې الله تعالی څرنګه خپلو بندګانو ته د سوال او دعا ور پرانستی دی او انسانانو ته د دعا کولو اجازه ورکړې ده او څرګنده مو کړه چې له الله

تعالی سره ناسته پاسته او مینه د انسان له روح سره څه کوي او ولې د حسناتو بدله لس برابره او د سیئاتو یو برابر ده نه ډېره؛ او هم څرګنده مو کړه چې د الله تعالی جود پلمه پیدا کوي چې انسانان جنتي کړي، نه داچې لاسوند ولټوي او دوزخ ته یې ور واستوي او داچې د هستۍ جوړښت نېکۍ روزي او څربوي یې؛ خو بدې دفع کوي او د ودې او وزرو نیوو اجازه نه ورکوي او هم د دې راز چې د نېکۍ او بدۍ سزا یو رنګ نه ده، همدا ده.

په روستي عبارت کې علي کرم الله وجهه خپل زوی ته د دعا د قبلېدو او نه قبلېدو په اړه ځینې ټکي ور زده کړي، چې موږ ته هم د زده کړې وړ دي.

## دعا د هر دین لاینفک برخه ده

دعا د هر دین له اساسي ارکانو ځنې ده. که کوم دین دعا او عبادت ونلري او د معبود بللو ته طریقه او دود ونه ښیي، دین نه دی. په ټولو ادیانو کې چې انسانانوله ډېرو پخوانیو وختونو راهیسې سروکار ورسره درلود (که اوړېدلي او شرکي ادیان ول)، عبادت او د معبود بلل د یو رکن په بڼه وجود درلود. قرباني کول، فدیه ورکول، د معبود درشل ته حاجت وروړل، تر ځان اوچت

ګڼل یې، خبرې ورسره کول او خپل ارزښتناک څیزونه ترې ځارول، د ګردو ادیانو د آدابو برخه وه؛ نوځکه د دعا اصل، مفروغ عنه دی. دین انسان د ډېر لویی موجود په محضر کې حضور ته رابلي او له انسانانو غواړي چې د ځان په حقارت او ناڅیزتوب منښته (اعتراف) وکړي او خپله اړتیا له دې ستر موجود سره مطرح کړي.

خو دعا کول لوازم، آداب او ځینې اصول دي چې باید یاد مو وي او پرې پابند اوسو.

و مو ویل چې له آره دعا د بندګۍ ښکاره کول دي نه د ژوند وزله. ادیان د دې له پاره نه دي راغلي چې انسانانو ته دعا ور زده کړي، چې ژوند یې ښه کړي او یا د مادي معیشت یوه وزله ورکړي او ټولنیز او وګړیز ژوند یې اسان کړي. البته شونې ده له دعا دغسې ګټې راولاړې شي؛ خو څه چې د دعا په بیخ او باطن کې نغښتي، دا نه دي. د دعا او عبادت اصلي حقیقت او موخه د بندګۍ ښکاره کول دي او هر څیز چې انسان له دې موخې غافل کړي؛ نو د دعا له حقیقته یې لرې کړی دی.

در کوی عشق شوکت شاهی نمی خرند

اقرار بندگی کن و اظهار چاکری
او بلکې د دعا حقیقت د حق پر لور اګاهانه ورتګ نه، چې مجذوبانه ورتلل دي؛ عین د هغه ښکار کېدل او په لاس کې یې راګېرېدل دي، نه داچې لمن یې ونیسو، بلکې هغه مو له چنغوکه ونیسي.
د مولانا په وینا:
بیخود شده‌ام لیکن بیخودتر از این خواهم
با چشم تو می گویم من مست چنین خواهم
من تاج نمی‌خواهم من تخت نمی‌خواهم
در خدمتت افتاده بر روی زمین خواهم
آن یار نکوی من بگرفت گلوی من
گفتا که چه می خواهی گفتم که همین خواهم

## په دعا کې آر، له الله تعالی سره مینه ده

په دعا کې له الله تعالی سره مینه، انس او ناسته پاسته ان تر اړتیا غوښتو ور ړومبی ده؛ یعنې د علي کرم الله وجهه په تعبیر په دعا کې باید له الله تعالی سره رازونه، د زړه خپګان او د روح خړپړتیاوې مطرح کړې، باید خواله ورسره وکړې او ځان د هغه د کتو په سمندر کې ومینځې. هېڅوک نشته چې په ژوند کې به په

تنگسه کې راګېر شوی نه وي او کله به يې زړه خپګان نيولی نه وي. د غمونو او خپګانونو د لرې کولو يوه اغېزمنه لار، له دوست سره يې مطرحول او د ده خپګان مينځونکيو سترګو ته ورکتل دي.

**له بل سره خبرې کول روحي خپګان له منځه وړي:**

د دوستانه، انساني او ښو آدابو د تنظيم لپاره د مولوي يوه سپارښتنه دا ده چې انسان د نورو د دردونو اورېدو لپاره اورېدونې غوږونه ولري. مولوی مثال ورکوي چې کله کوټه له لوګي ډکېږي، داچې دا لوګي له کوټې ووځي او د کوټې فضا بېرته روښانه شي؛ نو بايد د کوټې دريځه پرانستل شي. مولوی وايي د نورو د خپګان خبرو ته غوږ نيول د دريځې پرانستل دي:

خانه پر دود دارد پُر فَنی
مر ورا بگشا ز اِصغا روزنی

د علي کرم الله وجهه په باب يې هم راوړي او مولوی هم اشاره ورته کړې چې له ډېره غمه يا د اسرارو د غلبې له لامله يې کله سر څاه ته ښکته کاوه او خپل خپګان يې ورسره اوڅاراوه:

چون بخواهم کز سرت آهی کنم
چون علی سر را فرو چاهی کنم
چونک اخوان را دل کینه‌ورست
یوسفم را قعر چه اولیترست
مست گشتم خویش بر غوغا زنم
چه چه باشد خیمه بر صحرا زنم

خو په حقیقت کې د پوښتنې ځای دی چې ایا علي کرم الله وجهه دغسې کول؟ څوک چې د الله تعالی په څېر ملګری او انیس لري او په محضر کې یې سترې خوشحالۍ او پراختیاوې مومي، ولې سر څاه ته ورښکته کوي؟ هو، علي کرم الله وجهه په زړه کې رازونه درلودل چې له نورو سره یې اوڅارولای نشو. پخپله یې له دې مانا خبر کړي یو؛ خو هېڅ وخت یې ویلي نه دي چې له ناچارۍ یې دا رازونه د څاه او دېوال په څېر کڼو او ړندو ته ویلي دي.

إِنَّ هُنَا لَعِلْماً جَمّاً لَوْ أَصَبْتُ لَهُ حَمَلَةً

« په سینه کې مې علمونه پراته دي، کاشکې حاملان مې ورته موندلي وای. »

بَلى أَصَبْتُ لَقِناً غَيْرَ مَأْمُونٍ عَلَيْهِ، مُسْتَعْمِلاً آلَةَ الّدِينِ لِلدُّنْيَا

« البته دین پلوري انسانان پېژنم، که دا رازونه ورسره مطرح کړم؛ نو په پلور به یې مادي ګټې ترلاسه کړي؛ نوځکه دا ډول وګړي مې نه پکارېږي. »

ولې روسته یې وویل:

**اللَّهُمَّ بَلَى لَا تَخْلُو الْأَرْضُ مِنْ قَائِمٍ لِلَّهِ بِحُجَّةٍ إِمَّا ظَاهِراً مَشْهُوراً وَ إِمَّا خَائِفاً مَغْمُوراً لِئَلَّا تَبْطُلَ حُجَجُ اللَّهِ وَ بَيِّنَاتُهُ**

«نه! پر ځمکه الهي حجتونه شته چې د دې رازونو رښتوني حاملان دي.[۲۷]»

دا رازونه او دا حاملان بله قصه لري. دلته مو بحث د هغو غمونو، خپګانونو او تنګسیو په اړه دی چې د انسان په ضمیر کې رادبره کېږي او انسان یې د ځان خلاصونې لپاره یوه دریځه لټوي. دې خلاصون ته غوره لار اورېدونکي غوږونه او حاضر دوست دی او الله تعالی حاضرترین حاضر دی او د مولانا په وینا: «احضرهم بالکفایة للمتوکلین علیک. . . ».

---

۲۷ **(نهج البلاغه، کلمات قصار، ۱۴۷)**

علي کرم الله وجهه خپل زوی ته دا ښوو نه کړې چې خبره دې له الله تعالی سره اوځار (مطرح) کړه او د خپګان لرې کونه دې ترې وغواړه.
په دې لیک کې علي کرم الله وجهه د دعا نه قبلېدو ته اشاره کړې لکه چې وویل شو، ښایي د دعا منل د دعا کوونکي خورا ټيټه تمه وي. څومره پیکه او بې خونده ده چې الله تعالی څوک وشړي او نامهرباني ورسره وکړي او د خبرو کولو اجازه ورنکړي. او اوس چې الله تعالی انسان ته د سوال، خبرو کولو او خواله کولو اجازه ورکړې؛ نو اُنس، ملتیا او مینه ورسره څومره زړه راښکونې ده. دا مینه، د هغو کسانو بدله ده چې له الله تعالی سره مینه کوي؛ خو ورته د الله تعالی ځواب:

## دعا ته د الله تعالی د ځوابونو ډولونه

د الله تعالی ځواب بېلابېل ډولونه لري؛ د دعا په ترڅ کې د وګړي تودېدل او په دې کار کې مینوالېدل او له ډېرې مینې خوټېدل عین ځواب اورېدل دي؛ خو هغو کسانو ته چې له دې ذوقه بې خبره دي، ښه ملموس ځوابونه ورته لازم دي. په همدې دلیل علي کرم الله وجهه په دې عباراتو کې زوی ته د دعاوو د قبلېدو او نه قبلېدو راز څرګند کړی دی:

فَلاَ يُقَنِّطَنَّكَ إِبْطَاءُ إِجَابَتِه فَإِنَّ الْعَطِيَّةَ عَلى قَدْرِ النِّيَّةِ وَ رُبَّمَا أُخِّرَتْ عَنْكَ الْإِجَابَةُ لِيَكُونَ ذَلِكَ أَعْظَمَ لأَجْرِ السَّائِلِ وَ أَجْزَلَ لِعَطَاءِ الْآمِلِ وَ رُبَّمَا سَأَلْتَ الشَّيْءَ فَلاَ تُؤْتَاهُ وَ أُوتِيتَ خَيْراً مِنْهُ عَاجِلاً أَوْ آجِلاً أَوْ صُرِفَ عَنْكَ لِمَا هُوَ خَيْرٌ لَكَ فَلَرُبَّ أَمْرٍ قَدْ طَلَبْتَهُ فِيهِ هَلاَكُ دِينِكَ لَوْ أُوتِيتَهُ

فلا. . . . او تيته.

## د دعا نه قبلېدو دلايل

۱. په دعا کې اصل د دعا پر کثرت او د اجابت پر قلت دی.

هسې نه د اجابت له ځنډه نهیلی شې او له دعا لاس واخلې؛ ځکه د دعا نه قبلېدنه څو دلیله لري؛

لومړی، بهیر داسې ندی چې ټولې دعاوې قبولې شي. اساساً په دعا کې، اصل د دعا پر کثرت او د اجابت پر قلت دی، یعنې په ډېرو دعاوو کې لږې قبلېږی. دا اصل یوازې په دعا کې ندی، تقریباً په هر ځای کې د طبیعت او نړۍ دود همدغسې دی. لکه باید ډېر تخم شیندئ، چې له منځه یې یو لږ شمېر راوټوکېږي او حاصل ورکړي. باید ډېر نصیحت وکړئ، چې له منځه یې یو اغېزمن شي. پهر ظاهره د نړۍ اداره ک ولو دود دغسې دی چې

باید پرېمانه هڅې وکړو، چې له منځه یط یوه اغېزمنه، گټوره او کار گره شي.

په نړۍ کې د دعا تر قبلېدو، نه قبلېدل یې ډېر دي:
په نړۍ کې علي الاصول د دعا تر قبلېدو، نه قبلېدل یې ډېر دي. په گومان مې یو ساده شمېرنه هم راښیي چې ډېرې دعاوې نه قبلیږي.

## د دعا په اړه د «گالتن» څېړنیزه شمېرنه

«فرانسیس گالتن» د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د انگلستان یو فیزیو آنتروپولژیست و چې د دعا په اړه یې راښکونې څېړنې کړي او هڅه یې وکړه چې د دعا قبلېدنه هم په تجربي ډول وڅېړي. په ړومبي گام کې یې مشاهده کړه چې خلک د یکشنبې پر ورځو په کلیسا کې د سلطنتي کورنۍ د روغتیا او اوږد عمر لپاره دعا کوي؛ نو څېړنه یې وکړه چې ووینې ایا د سلطنتي کورنۍ عمر د نورو خلکو په پرتله یو مانا دار اختلاف لري یا نه. د څېړنې پایله منفي وه. روسته یې وویل: ښایي خلک په ناغېړۍ دا دعاوې کوي؛ نوځکه نه قبلیږي؛ خو کشیشان او مسیحي ملایان او روحانیون د زړه له کو مې ځان ته دعا کوي؛ نوځکه باید له آره

يې عمر تر نورو اوږد وي؛ خو د دې څېړنې پایله هم منفي وه. ګالتن بیا ځلې ځان وپوښت، ایا د بیمې شرکتونه چې د بېمې د پیسو اخستو په باب حساس دي؛ نو د هغو کسانو ترمنځ چې ځان ته ډېری دعاوې کوي او هغوی چې لږې دعاوې کوي، څه توپیر کوي؟ د دې پوښتنې ځواب هم منفي و او همدغسې یې دروا‌خله.

«ګالتن» له دین او دیانت سره کینه نه درلوده او په داسې پېر کې اوسېده چې شمېرنې ډېرې دود وې او څېړونکیو غوښتل چې هر څه څیړنیز وشمېري. په هر حال، د څېړنو پایله یې دا و چې د ډېری خلکو دعا نه قبلېږي. له دې څېړنې یو ډول پایله دا ده چې ووایو، دعا د انسان په ژوند کې څه ځای نلري او د خلکو زړه تړنه پرې هسې په هسې ده او د دعا کولو او نه کولو ترمنځ توپیر نشته. او بله پایله هماغه ده چې علي کرم الله وجهه په تېر عبارت کې وویله:

له آره دې دعا کوونکي له دعا خپله انګېرنه سمه کړي او پوه شي چې د اصولو له مخې داسې ده چې ډېرې دعاوې قبولې نشي. که ډېری دعاوې قبلېدې؛ نو اړتیا نه وه چې علي کرم الله وجهه خپل زوی ته د دعا نه قبلېدو راز ورڅرګند کړي. که انسان بیاځلي یو

درمل وخوري او په غالب مواردو کې مطلوبه پایله ترې واخلي، د دې درملو له خوړو لاس نه اخلي، او بلکې په نادرو مواردو کې یې نه اغېزمنېدو ته هم یو ډول مخونه ورکوي؛ نو علي کرم الله وجهه زوی ته په دې دلیل د دعا نه قبلېدو راز ورڅرگندوي چې ورزده کړي، چې د دعا په نه قبلېدو کې یو حُسن او ښه شته چې ښایي درنه پټ وي؛ نوځکه له دعا لاس مه اخله.

همداراز، نو له همدې لامله ده چې کله نا کله د دعا قبلېدل ځنډنی شي ترڅو خلک تل الله تعالی ته دعاوې وکړي. د انسان طبع لټې ته ورماته ده او د دې لپاره چې تل په کار او لټه کې وي، یوې انگېزې، چلوونکي او سایق ته اړتیا لري او په پای کې دا ځنډونې به د انسان پر گټه وي. انسان باید دعا په خپل ژوند کې خواړه وبولي، نه درمل چې کله کله دا درمل خوري او چټکې پایلې ته یې سترگې پر لار وي. غالباً خلک له دې چاره غافل دي. لکه فی المثل که الله تعالی لمونځ فرض کړی نه وای؛ نو څو تنو به د ورځې لمونځونه کول؟ د دعا په قبلېدو کې ځنډ د دعا د استمرار یوه له انگېزو څخې ده چې دا پخپله یو برکت دی چې په دعا کې نغښتی دی.

۲. کله د انسان اړتیا نه ورپوره کوي چې روسته تردې غوره ورکړي. علي کرم الله وجهه ویلي، کله انسان یو څه غواړي او نه يې ورکوي؛ خو تردې غوره ورکوي. دعا کول د دعا کولو لپاره دي، نه قبلېدو ته. اصل دا دی چې انسان د الله تعالی بللو اجازه لري او کله خپله اړتیا هم ورسره مطرحوي. لازم نه ده چې ټولې دعاوې مو قبولې شي. ډېر ځل زموږ د مطلوبې اړتیا پر ځای، تردې غوره راکوي.

## د انبیاوو او امامانو هم ټولې دعاوې قبولې شوي نه دي

حقیقتاً داسې نه و چې د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم یا علي کرم الله وجهه یا نورو امامانو ټولې دعاوې قبولې شوې وي. له دې اړخ معصوم او نامعصوم یو رنګ دي. لکه د ابوحمزه ثمالي په دعا کې چې د رمضان میاشتې د پشمني یوه اوچته دعا ده، امام سجاد له الله تعالی غواړي:

وا جْعَلنی مِمّن اَطَلْتَ عُمْرَهُ وحَسَّنْتَ عَمَلَهُ وَ اَتمَمْتَ عَلَیْهِ نِعْمَتکَ.

. . .

«الله تعالی! د هغو کسانو په کتار کې مې کړه، چې اوږد عمر دې ورکړی او. . . »

که د امام سجاد ژوند لیک ته مراجعه کړو، وبه وینو چې عمر یې تر اووپنځوسو ډېر نه و، حال دا، په ټینګه یې له الله تعالی اوږد عمر غوښته.

## د دعا په قبلېدو کې ځنډ، نباید انسان د دعا له آره واړوي

نوځکه کله هم د پاکانو دعا قبوله شوې نه ده؛ نوځکه د علي کرم الله وجهه د وینا له مخې که دعا قبوله نشوه یا په ځنډ قبوله شوه؛ نباید د دعا مانۍ نړېدلی وبولو او اصل یې بې ګټې وګڼو. نباید د دعا په قبلېدو کې ځنډ، انسان له دعا کولو منع کړي او یا یې په اړه بې اعتماده شي. ځکه د علي کرم الله وجهه د وینا له مخې کله انسان ته یو څیز نه ورکوي؛ خو روسته غوره ترې ورکوي، که په دې دنیا کې وي یا بلې کې. په نژدې یا لرې فرصتونو کې حقیقت دا دی که څوک ځان ته په تلپاتې اوچت ژوند قایل وي؛ نو په دنیا کې که څه له لاسه ورکړي؛ نو دومره تاسف به و نه کړي. که انسان الله تعالی په هر اړخیز حضور یې پېژني او په وینا یې ډاډمن وي او پوهېږي چې دعا کول خوشې او عبث نه دي او الله تعالی دعا هسې او بې ځوابه نه پرېږدي، نو په دې حال کې که پردې دنیا یې څه ترلاسه نه کړل؛ نو ډاډمن دی چې دا غوښتنه یا

ترې غوره به په بل ځای کې ورکړي. هغوی چې د دې دنیا په غځېدا قایل نه دي خپله ګټه او تاوان په همدې دنیا پورې را ایساره بولي او څه یې چې دلته ترلاسه کړل، ګټه شمېري او څه یې چې ترلاسه نکړل بیخي یې زیان ګڼي؛ خو مؤمنانو ته دا ډول شمېرانه او محاسبه سمه نه ده.

**په نړۍ کې خلک دوه ډوله دي:**

۱-هغوی چې همدې دنیا ته دي او ۲- هغوی چې دنیا دوی ته ده.

دعا د دې لپاره نه ده چې په دنیا کې ټولې نېکۍ یو ځای یو تن ته ورکړي. دنیا د یوه تن پر غوښتنې نه چورلي او د مولانا په وینا خلک دوه ډوله دي: هغوی چې د دنیا لپاره دي او هغوی چې دنیا د دوی لپاره ده. ډېری خلک له لومړي ډوله دي؛ نوځکه باید خپل برید وپېژني او ځان ته ګرده دنیا ونه غواړي.

**۳. کله د انسان خیر د دعا په نه قبلېدو کې وي**

کله کله هم دعا نه قبلېږي؛ ځکه د انسان زیان پکې وي. که څه موږ انسانانو ته د دعا اجازه راکړل شوې؛ خو موږ پخپله هغه بهترین څوک نه یو، چې خپل خیر وپېژنو. انسان کله کله د خپل

مصلحت په تشخیص کې تېروځي. هو د انسان ښه ایسي چې له الله تعالی هر څه وغواړي؛ خو غوښتنې یې تل پر ګټه نه وي؛ نوځکه په هر ځای کې یې دا غوښتنې نه ور پوره کېږي.

فَلَرُبَّ اَمْرٍ قَدْ طَلَبْتَهُ فِيهِ هَلاَكُ دِينِكَ لَوْ أُوتِيتَهُ

«کله کله دې د دین هلاکت د دعا په قبلېدو کې دی»

د دې چار یوه بېلګه مخکې علي کرم الله وجهه خپل زوی ته وویله چې ته له الله تعالی اوږد عمر، روغتیا او د رزق پراخي غوښتلای شې؛ خو په پای کې بیا زوی ته باخبري ورکوي چې:

فَلْتَكُنْ مَسْأَلَتُكَ فِيمَا يَبْقَى لَكَ جَمَالُهُ وَ يُنْفَى عَنْكَ وَبَالُهُ

«سمه ده دا ډول چارې له الله تعالی وغواړې؛ خو داسې څه ترې وغواړه چې جمال او ښکلا یې درپاتېکېږي او وبال یې ستا تر غاړې کېږي نه.»

نوځکه شونې ده انسان د هغه مارګیر په څېر، یو ښامار ښکار کړي او وګڼي چې د ګټې وټې یوه سرچینه یې ترلاسه کړې؛ خو په رښتینه کې ښایي د مړینې لامل یې شي. په همدې دلیل کله د دعا نه قبلېدل، تر قبلېدو یې غوره ده:

بس دعاها کان زیان است و هلاک

وز کرم می نشنود یزدان پاک

له انسان سره د الله تعالى د دوستۍ دا غوښتنه ده چې الله تعالى هلاکت زیږي دعاوې وانه وري:
فَالْمَالُ لاَ يَبْقَى لَكَ وَ لاَ تَبْقَى لَهُ
«نه مال درته پاتېږي او نه ته مال ته ورپاتېږې.»
یعنې که خپل خیر دې د مال په درلودو کې وګڼه او له الله تعالى دې وغوښت؛ نو مه غافلېږه، شونې ده چې دا مال یو ښامار چې ساه دې واخلي.

## الله تعالى د بشري هوسونو د پوره کولو وزله نه ده

په ډېرى دعاوو کې چې نه قبلېږي، انسان پکې له الله تعالى سره خپلې هیلې اوڅاروي او هڅه کوي چې الله تعالى د خپلو اړتیاوو پوره کولو ته یوه وزله کړي. دین کله هم انسانانو ته ژمنه ورکړې نه ده چې هر څه غوښتای شئ، چې موږ یې په الله تعالى او یا ورسره په مطرحولو درپوره کړو. دا ډول ناسمې انګېرنې، یو ډول لټې، روحي نادډمنتیا او بې ځایه تمې رادبره کوي.

## مازې پر دعا توفیق، د دعا بدله او ځواب دی

لنډه دا، باید دیني ټولنه له دعا سره روږدې وي. د الله تعالى بلل فرض دي. ورسره خبرې کول، د دیني ژوند ذوق او د مانیز (معنوي) ژوند خوږوکه او خوند دی. باید دا شریف چار تعقیب

شی، که څه ځواب ونه مومي. د انسان بدله همدا ده چې اجازه یې ورکړې الله تعالی وبلي. دا بلنه د انسان په روح کې داسې خوشحالي راولي چې په بله لار نه تر لاسه کیږي. که دې بلنو مادي او ملموسه پایله هم درلوده؛ نو ډېره ښه، که نه، پر خپله دعا خو بیخي څه ټکه او نیوکه نشته. په دیني ټولنه کې مازې دعا کول ښه کار دی او باید دا روحیه را روستو نسلونو ته وروليږدو او د علامه محمد اقبال په وینا، دعا کول د انسان په وګړه او شخصیت کې بدلون راولي چې دا وګړه عین مطلوبه ده، د دعا قبلېدل یو ثانوي او تبعي چار دی.

نوځکه دلته مساله دا نه ده چې انسان د خپلو مادي کړلارو په څېر کېني او وڅېړي چې دباندې یې د دعا اغېز څومره ده. البته کله دباندې د دعا اغېز هم ښکاره کیږي؛ خو اصل، اغېز نه دی او د دعا په قبلېدو کې خپله دعا هم منتفي کېدلای نشي.

## غوره ده، انسان په دعا کې له الله تعالی پاتېدونې چارې وغواړي

علي کرم الله وجهه په لیک کې زیاتوي:

وَ اعْلَمْ يَا بُنَيَّ أَنَّكَ إِنَّمَا خُلِقْتَ لِلآخِرَةِ لاَ لِلدُّنْيَا وَ لِلْفَنَاءِ لاَ لِلْبَقَاءِ وَ لِلْمَوْتِ لاَ لِلْحَيَاةِ وَ أَنَّكَ فِي قُلْعَةٍ وَ دَارِ بُلْغَةٍ وَ طَرِيقٍ إِلَى الآخِرَةِ:

« زويه! پوه شه آخرت ته پنځول شوی یې، نه دنیا ته، له دنیا تلونکی او پکې پاتېدونکی نه یې، مرگ ته پنځول شوی یې نه په دنیا کې تلپاتې ژوند ته او شونې ده، چې هره شېبه له دنیا ولاړ شې او آخرت ته ورننوځې »

علي کرم الله وجهه د دعا په اړه دا برخه په خپلو سپارښتنو پسې راوړې ده او ته وا خپل زوی ته وریادوي چې هو، الله تعالی انسانانو ته د دعا اجازه او د قبلېدو اجازه یې ورکړې ده؛ خو څوک چې دا شریفه وزله ضایع کوي او لکه څنگه چې ښایي گټنه ترې نه کوي؛ نو پوه دې شي چې خپله مقصر دی.

زموږ په ډېری دعاوو کې یوازې لږې قبلېږي؛ نو ولې دا لږې دنیوي او ناپاتېدونو هیلو ته ولگو؟ عاقبت وینی انسان هغه دی چې اخروي ژوند ته یې ورپام وي او تر تلونکیو چارو ډېر پاتېدونو چارو ته سوچ وکړي؛ نوځکه انسان باید له متقیانو د دعا کولو لار زده کړي.

## پېغمبران او ديني مشران د سمې دعا کولو د طريقې غوره ښووونکي دي

له پېغمبرانو او ديني مشرانو مو يوه تمه دا ده چې د دعا کولو سمه طريقه را زده کړي، هسې نه چې دا ستر نعمت ضايع شي. د دې نعمت شکردا دی چې، سمه ګټنه ترې وشي. له ديني مشرانو ډېرې دعاوې رارسېدلې او که څوک غواړي سم الله تعالی وبولي، غوره ده چې همدا دعاوې ولولي، انسانان لږ پوهېږي چې له الله تعالی څه وغواړي او که د دې مشرانو لاسنيوی نه وي؛ نو شونې ده انسان تل خپلې سترګې په ناڅيزو او بدرنګو مناظرو بوختې کړي او خپل عمر تباه کړي او د زړه تاندو او زړه راکښوونکيو نظر کولو فرصت له لاسه ورکړي. په پای کې د علي کرم الله وجهه دا دعا لولو:

**اللَّهُمَّ إِنَّكَ آنَسُ الْآنِسِينَ لِأَوْلِيَائِكَ وَ أَحْضَرُهُمْ بِالْكِفَايَةِ لِلْمُتَوَكِّلِينَ عَلَيْكَ تُشَاهِدُهُمْ فِي سَرَائِرِهِمْ وَ تَطَّلِعُ عَلَيْهِمْ فِي ضَمَائِرِهِمْ وَ تَعْلَمُ مَبْلَغَ بَصَائِرِهِمْ فَأَسْرَارُهُمْ لَكَ مَكْشُوفَةٌ وَ قُلُوبُهُمْ إِلَيْكَ مَلْهُوفَةٌ إِنْ أَوْحَشَتْهُمُ الْغُرْبَةُ آنَسَهُمْ ذِكْرُكَ وَ إِنْ صُبَّتْ عَلَيْهِمُ الْمَصَائِبُ لَجَئُوا إِلَى الِاسْتِجَارَةِ**

ښښتنه! ته تر ټولو دوستانو زيات د خپلو دوستانو دوست يې او د توکل کوونکيو د اړتياوو لرې کوونکی يې، له ټولو خوالو يې خبر يې او چې څه يې په زړه کې دي، پرې پوهېږې او ته يې له ليدلوريو باخبره يې او خواله يې درته بربنډه ده او زړونه يې ستا پر لور په ځير دي. که يوازېتوب او غربت يې په بوږند کړي؛ نو ستا ياد به يې ملګری شي. که کړاوونه پرې راکېوځي؛ نو پناه دروړي او درشل ته دې درمخه کوي.

الله تعالی! په عفوه دې راسره وچلېږه نه په عدالت او د خپل رحمت وروښه دې را پرانيزه.

## د پالونکي په درشل کې تذلل[۲۸]

خدايه! ګناهونو مې چوپ کړی يم او خبرې يې راپرې کړې او له ځانه د ننګې لپاره کوم دليل نه لرم، د ځان بنديوان او د خپلو کړنو ګرو يم، د خپلو تېروتنو په جبرانولو، له سمې لارې په وتو سرګردان او په خپله لار کې پاتې راغلی يم.

[۲۸] صحيفه سجاديه

پالونکیه! خپل نفس ته مې د ګناهګارانو او ذلیلانو په ځای کې ځای ورکړ، د هغو بدمرغو انسانانو په ځای کې، چې سپین سترګي یې درسره کړې او ستا ژمنو ته یې په سپکه کتلي.
خدایه سپېڅلی یې ته! په کومه مړانه مې سپین سترګي درسره وکړه او په کوم کبر او غرور پر خپل ځان غره شوم؟!
باداره! په پړمخ غورځېدو او د لاسونو په لړزار مې راولوریږه، په صبر دې زما پر ناپوهۍ او په احسان دې زما پر بې ادبۍ راولوریږه؛ ځکه پر خپلو ګناهونو معترف یم او تېروتنې مې منم او اوس مې ستا درشل ته زولۍ درغوړولې، درشل ته دې په زاریو یم او کسات ته مې ځان درتسلیم کړی.
خدایه! پر بوډاتوب، د عمر په پای ته رسېدو، د مرګ په رانږدېدو، په کمزورۍ، په ستومانۍ او بې چارګۍ مې ولوریږه.
باداره! هغه مهال راولوریږه، چې زما او د دنیا ترمنځ بېلتون راشي او یاد مې دې له مخلوقاتو لرې کړه، چې له هغو هېر شویو څنې شم، چې څوک یې هم نه یادوي.
باداره! هغه مهال راولوریږه، چې په قبر کې مې څېره او بدن بدلون مومي او د بدن غړي مې یو له بله بېلېږي او بندونه مې شلېږي. له

هغه څه د غفلت په باب دې زما په حال خواشيني وي، چې په اړه مې اراده شوي دي.
باداره! د قيامت پر ورځ د حشر و نشر پرمهال راولوربږه او پر دې ورځ مې دې له خپلو اولياوو سره ملګرى او د خپلو دوستانو په ځګي کې کړه او د خپلې لورنې ګاونډى مې کړه، اى نړى پاله!

## پر ګناهونو ژړا او زارۍ[29]

خدايه! اى هغه چې ګناهګاران دې له لورنې مرسته غواړي او اى هغه چې بې پناهان دې احسان ته پناه دروړي او اى هغه چې تېروتونکي دې له ډاره لړزېږي، اى د هر غريب ډارېدلي مونسه او اى د هر غمجن زړه خوشحالونکيه او اى د هر يوازې خوار شوي د غږ اورېدونکيه او اى د هر شړل شوي اړمن مته، ته يې چې پوهه او لورنه دې پر هر څه راچاپېره ده او ته يې چې خپل هر يوه مخلوق ته دې له خپلو نعمتونو څنې يوه برخه په پام کې نيولې ده او ته يې چې بښنه دې تر عذابه غوره ده او ته يې چې لورنه يې پر غوسه ورمخکې ده او د نعمت ورکړه دې د نعمت له

[29] صحيفه سجاديه

منعې ډېره ده او ته يې چې ټول مخلوقات دې په واک دي او ته يې چې د خپلو ورکړيو نعمتونو پر وړاندې د اجر تمه نه لرې او ته يې چې ګناهګارانو ته په سزا ورکولو کې افراط نه کوې.
ای زما خدايه! ستا هغه بنده يم، چې د دعا کولو حکم دې ورکړی او و دې ويل: ستا بلنه مې ومنله! او زه اوس ای پالونکيه! په واک کې دې يم او زه يم، هغه چې تېروتنو يې ملا ورماته کړې او زه يم هغه چې عمر يې ګناهونو له منځه وړی او زه يم هغه چې د ناپوهيو له لامله يې له تا سرغړونه کړې، حال دا، ته د سرغړاندۍ وړ نه وې؛ نو ای خدايه! څوک چې دې بلي، پرې لورېږې، چې په دعا کې دې هڅه وکړي ؟ او څوک چې دې په درشل کې اوښکې تويې کړي، ښښې يې؟ او آيا له هغه تېرېږې، چې په خاکسارۍ يې مخ په خاوره درته ايښی؟ او آيا هغه مړه خوا کوې، چې په بېوزلۍ او نشتمنۍ، توکل درباندې کوي. زما خدايه! هغه مه نهيلوه، چې بې له تا بل ښونکی نه لري او هغه مه خواره، چې ستا له وجود پرته نه مړه خوا کېږي.
زما خدايه! پر حضرت محمد (صلی الله عليه وآله وسلم) او آل يې درود ووايه، مخ راځنې مه اړوه، حال دا، درمخه کړې مې ده،

له خپلې لورنې مې دې مه بې برخوه، حال دا، درلېواله یم او اوس، چې دې درشل ته ولاړ یم؛نو له خپل درشله مې مه شړه .
ته یې چې خپل ذات دې په لورنه او ښښنه ستایلی؛ نو پر حضرت محمد(صلی الله علیه و آله وسلم) او آل یې درود ووایه، راولورېږه او ته یې چې ځان دې ښښونکی نوملی؛ نو و مې وبښه.
خدایه! ګورې چې ستا له وېرې مې اوښکې راتویېږي، زړه مې درزېږي او غړي مې ستا له ستریا او جلاله لړزېږي او دا ټول مې د خپلو کړنو د ناوړتیاوو له لامله دي؛ نو ځکه غږ مې ستا درشل ته د ژړا او زارۍ پرمهال ټپ او ژبه مې له دعا کولو بېوسې ده.
خدایه! ستاینه تا ته ده، چې زما ډېرې ګناوې دې پټې کړې دي، بې پته دې نه کړم او زما پر ډېرو تېروتنو دې پرده واچوله او په نورو کې دې ډنډوره نه کړم او پر ډېرو ګناهونو مې ځان ککړ کړ؛ خو تا مې حرمت مات نه کړ او د هغو ګناهونو د ناوړتیا پېټی دې را پراوړ‌و نه کړ او د هغو ګناهونو ناوړتیاوې دې زما له ګاونډیانو، چې د نیمګړتیاوو په لټه کې مې دي او د کینه کښو له سترګو، چې زما په نعمتونو یې کینه کوله، پټې کړې.
خو له دې ټولو لورونو سره سره، چې راباندې دې وکړې، له ناوړه کړنو لاس پر سر نه شوم! ! ای خدایه! تر ما به بل څوک د خپلې

ودې او پرمختګ پر لار ناپوهه وي؟ او تر ما بل څوک به دې له معنویاتو په ګټنه کې غافل وي؟ او بل څوک به تر ما په خپله سمونه کې روسته پاتې وي، حال دا، کومه روزي، چې دې راټاکلې او له ګناه کولو دې ژغورلی یم، بشپړه سرغړونه مې وکړه او بل څوک به تر ما په ناوړه او باطلو چارو کې ورډوب وي.
خدایه! چې ستا او د شیطان د بلنې د منلو پر دوه لارۍ شم؛ نو د شیطان بلنه منم؛ البته نه په پټو سترګو یا د هېر له لامله.
البته پوره ډاډمن یم، چې د بلنې د منلو پایله دې جنت دی او د شیطان د بلنې د منلو پایله دوزخ دی. خدایه! ته پاک یې. خدایه! څومره هېښنده ده، چې پر خپلو کړنو اقرار کوم او خپلې پټې چارې بربنډوم او تر دې خو لا هېښنده دې صبر او ما ته په عذاب راکولو کې ځنډ دی او دا ستا په نزد زما د درنښت له لامله نه؛ بلکې ستا له لوري صبر، زغم او فضل دی، چې پر ما دې کړی دی، چې شونې ده، یوه وزله شي، چې له سرغړونو دې لاس واخلم؛ ځکه بښنه دې تر عذابه راته ډېره ګرانه ده.
خدایه! دا زه یم، چې خورا ګناهونه مې کړي او ناوړه چارې یې له ځانه پرېښې او تر ټولو ډېر په باطلو کې ورډوب یم او په عبادت کې مې دې ناغېړي کړې او ستا له عذابه مې وېره او پوهه تردې

خورا لږه ده، چې بدۍ مې دروشمېږم او یا مې د ګناهونو پر یادولو وسمن وسم.

او که ځان په دې خبرو رټم، د هغې تمې په پار دي، چې ستا لورنې ته یې لرم او د ګناهګارانو د حالت سمونه ورپورې اړه لري او د هغه لورنې په پار ده، چې د تېروتونکیو ژغورنه ورپورې اړه لري.

خدایه! ورمېږ مې ګناهونو رامات کړی؛ نو پر حضرت محمد (صلی الله علیه و آله وسلم) او آل یې درود ووایه او ته په خپله مې غاړه خلاصه کړه، د ګناهونو پېټی مې رابانديې دروندوالی کوي؛ پر حضرت محمد (ص) او آل یې درود ووایه؛ نو په خپل او لطف او کرم دې پېټی مې سپک کړه.

خدایه! که دومره وژاړم، چې سترغلي مې وپړسېږي او دومره چغې ووهم، چې غږ مې ټپ شي او دومره درته ودرېږم، چې پښې مې وپړسېږي، دومره رکوع ګانې درته وکړم، چې د ملا هډوکي مې مات شي او دومره سجدې درته وکړم، چې سترګې مې کړوپې شي او ټول عمر د ځمکې خاورې وخورم او چټلې اوبه وڅښم او په دې حالتونو کې دې دومره عبادت او ذکر وکړم، چې ژبه مې له کاره وغورځېږي او له خپجلتیا سر راپورته نه کړای شم او

اسمان ته ونشم لیدای؛ نو له دې ټولو حالاتو سره سره بیا هم وړ نه یم، چې له خپلو ګناهونو ځنې، یوه ګناه مې له منځه یوسم.
پالونکیه! که و مې ښښې، هغه مهال، چې د ښښنې وړتیا دې پیدا کړم؛ نو دا به ددې لپاره نه وي، چې د داسې یو لورنې وړ یم؛ بلکې پر هماغه لومړي ځل مې چې، سرغړونه درنه وکړه، سزا مې د دوزخ اور و او که عذاب مې کړې؛ نو ظلم به دې راباندې کړی نه وي.
خدایه! ته وې، چې زما پر سرغړونو دې پردې واچولې او رسوا دې نه کړم او په خپلو ښښنو دې نېک چلن راسره وکړ او په عذاب راکولو کې دې بېړه و نه کړه. صبر دې راته وکړ او په نعمتونو کې دې بدلون را نه ووړ او خپل احسانونه دې راته په غم او خپګان و نه لړل؛ نو د خواریو په ډېروالي او د بېچارګیو په شدت او د ځګې پر بدوالي مې ولوربېږه.
خدایه! پر حضرت محمد(صلی الله علیه و آله وسلم) او آل یې درود ووایه او له ګناهونو مې وساته، په بندګۍ کې مې بریالی کړه او له ګناه څخه بېرته ستنېدل مې په نصیب کړه.
خدایه په توبه مې پاک کړه او له ګناه څخه په ځانساتۍ کې مې مرسته وکړه او په خپل عافیت مې اصلاح کړه او د ښښنې خوږلنی

دې راوځکه او له هغوی مې کړه، چې په ښښنه او لورنه دې ازاد شوي او راته وليکه، چې له غوسې دې په امان کې يم او په همدې دنيا او نه په هغې نړۍ کې، زېری راباندې وکړه؛ هغه زېری، چې نښې يې په سترګو ووينم او نورو ته يې ووايم او دا چار درته ستا د لورنې د پراختيا له لامله ستونزمن نه دی او د وسمنۍ له مخې دې نه په زحمتوي او د هغو خورا ډېرو لطفونو له مخې، چې قرآن پرې دلالت کوي، درون چار درته نه دی؛ ځکه! ته چې څه وغواړې، کوې يې او د څه اراده، چې وکړې، حکم يې ورکوې او ته پر هر څه وسمن يې.

## شپږ دېرشم لوست

بسم الله الرحمن الرحيم

ولا حول ولا قوة الا بالله العلى العظيم

و صلى الله على سيدنا محمد و آله اجمعين

وَ اعْلَمْ يَا بُنَيَّ أَنَّكَ إِنَّمَا خُلِقْتَ لِلْآخِرَةِ لاَ لِلدُّنْيَا وَ لِلْفَنَاءِ لاَ لِلْبَقَاءِ وَ لِلْمَوْتِ لاَ لِلْحَيَاةِ وَ أَنَّكَ فِي قُلْعَةٍ وَ دَارِ بُلْغَةٍ وَ طَرِيقٍ إِلَى الْآخِرَةِ

زویه! پوه شه آخرت ته پنځول شوی یې، نه دنیا ته، له دنیا تلونکی او پکې پاتېدونکی نه یې، مرګ ته پنځول شوی یې نه په دنیا کې تلپاتې ژوند ته او شونې ده، چې هره شېبه له دنیا ولاړ شې او آخرت ته ورننوځې

وَ أَنَّكَ طَرِيدُ الْمَوْتِ الَّذِي لاَ يَنْجُو مِنْهُ هَارِبُهُ وَ لاَ يَفُوتُهُ طَالِبُهُ وَ لاَ بُدَّ أَنَّهُ مُدْرِكُهُ فَكُنْ مِنْهُ عَلَى حَذَرِ أَنْ يُدْرِكَكَ وَ أَنْتَ عَلَى حَالٍ سَيِّئَةٍ قَدْ كُنْتَ تُحَدِّثُ نَفْسَكَ مِنْهَا بِالتَّوْبَةِ فَيَحُولَ بَيْنَكَ وَ بَيْنَ ذَلِكَ فَإِذَا أَنْتَ قَدْ أَهْلَكْتَ نَفْسَكَ

د مرګ ښکار یې، چې څوک ترې تښتېدای نشي او چې څوک هم ولټوي؛ نو په لاس ورځي او نیسي یې؛ نو له مرګه وډار شه! هسې نه داسې مهال درته راشي، چې د ګناه پر حال یې او یا توبې

ته سترګې پر لار يې او مرګ مهلت در نه کړي او ستا او د توبې ترمنځ دې خنډ شي، چې په دې توګه ځان به دې پوپنا کړی وي.
يَا بُنَيَّ أَكْثِرْ مِنْ ذِكْرِ الْمَوْتِ وَ ذِكْرِ مَا تَهْجُمُ عَلَيْهِ وَ تُفْضِي بَعْدَ الْمَوْتِ إِلَيْهِ حَتَّى يَأْتِيَكَ وَ قَدْ أَخَذْتَ مِنْهُ حِذْرَكَ وَ شَدَدْتَ لَهُ أَزْرَكَ وَ لَا يَأْتِيَكَ بَغْتَةً فَيَبْهَرَكَ
زويه! مرګ او هغه خورا يادوه، چې پر لور يې وردرو مې او تر مړينې روسته پکې مېشتيږې له مرګ سره د مخامخېدو تر مهاله، له هره پلوه ورته چمتو وسه، څواکمن شه او د همت ملا دې ټينګه وتړه، چې ناڅاپه رانشي او په ګونډو دې نه کړي.

## هغوی چې دعا يې نه قبليږي

په رواياتو کې لرو چې الله تعالی د څو کسانو دعا نه قبلوي: يو هغه چې په کور کې ناست دی، کار نه کوي او له الله تعالی رزق غواړي، د دې وګړي دعا نه قبليږي؛ ځکه د دې کار لار معلومه ده او دا هم مؤظف دی چې حلال رزق ترلاسه کړي. بل هغه دی چې په کور کې ناسازګاره مېرمن لري او ترې جلا کېدای شي؛ خو دعا کوي چې الله تعالی دې دا شر رانه لرې کړي، دا دعا هم نه قبليږي. اوس له علي کرم الله وجهه اورو، يوه بله ډله هم شته

چې دعا يې نه قبلېږي او دوی هغه کسان دي چې پر نېکيو امر کول يې له لاسه ورکړی او بدان ورباندې واکمن شوي او واګې يې ترې اخستي او په دې وخت کې الله تعالی ته دعا کوي چې د دې واکمنو سپېره سيوری رانه لرې کړي. په بله وينا د دې سپېره سيوري د لرې کولو لار بيا هم پر نېکيو امر او له بديو منع ده او کوم کسان چې په دې لار ولاړ نشي، مطلوبې موخې ته به ونه رسي.

## دنيوي او اخروي دعاوې

۱- خدايه! د هېواد د رغاونې په بهير کې ، پر خدای باندې د ګروهې له مخې د (( ملي تقوا)) احســاس را، چې خپل ولس ته د چوپړ په لار کې ونه ښو يېږم، چې ((ځاني غوښتنې)) مې د (( ولسي غوښتنو)) ځای ونيسي.

او له هغې روحيي مې وساته، چې هر څه ته بدوينه وسم، پر هر څه ټکې کوم او په خپله مې هم څه چار له لاســه ونشيـــاو په پايله کې کينه کښ له نړۍ ولاړشم .

۲- خدايه! هغه آرامي او خوشــبختي مه راکوي، چې ابتذال او چټيتوب تـه مې را کـاږي، بلکې روحيې تـه مې ملي ســترې انديښـــنې او غمونه را ډالۍ کړه، چې ګرانو هېوادوالو ته د چوپړ پـه لار کې، لـه ربړ ګـاللو خونـد واخلم او پـه ملي تـاريخ کې نېکنامی او د آخرت تو ښه مې شي.

۳- خدايه! د فکر او احساس کچه مې تر دې بريده اوچته کړې، چې ځان يو (( ملي افغان)) وبولم. د ټولو شخصيـ، دولتي، غير دولتي او ســوداګريزو چارو د هڅو چورليځ مې د افغانســتان سر

لوړاي وي  او راتلونکي نســـل ته خدمت کول وي. او له هغو شیطاني او غیر ملي ننګېرنو مې بچ کړې، چې هر څه له (( ځاني غوښـــتن )) ځار کړم، چې په پایله کې د ولس راباندې لعنت، د تاریخ را باندې ناوړه قضاوت او اخروي پایله مې (( اورمېشتي )) وي.

۴- خدایه! د (( طبیعت )) (( تاریخ )) و (( ټولنې )) او (( ځان )) له څلورګونو بندونو مې خوشې کړه، لکه څنګه چې دې پنځولی یم، ځان جوړ کړم، جګړه ځپلې ټولنه جوړه کړم، هېواد بېرته تېر برم ته ورســـتون کړم او د هېواد پراخه طبیعي سر چینې د ښـــېراز افغانستان جوړولو ته و کاروم.

۵- خدایه! د (( ملي شـــک )) ســـپېڅلی اور را کې بل کړه، چې ټول هغه (( دروغجن یقینونه )) راکې وســـوځي، چې راکې د کانې کرښه شوي، چې بیا د ایرو تر دې ډېرۍ پسې د ملي یوالي او سر لوړي افغانستان د موسکا ځلاند لمر راو خېژي.
٦- خدایه! هېواد او ولس ته مو له ورتپل شـــویو نادودو سره د ملي، دیني او قانوني مبارزې له لارې وس او زغم ورکړې، چې

هېوادوال له اوســـني کړکېچه په خير د ثبات تړاو ته ور داخل شي.

۷-انتظامي ځواکونو ته دعا

: خدايه!پر محمد او آل يې درود ولېږه.

۸- خدايه: په ايمان کې (( مطلق اطاعت))، چې په نړۍ کې د ظلم پر ضد(( مطلق سر غړاند)) او سم .

۹- خدايه: له خداى، هېواد او وظېفې سره پوره مينه را، چې د گران هېواد افغانستان، د هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا او اسلامي نظام د ټينگښت په لار کې ثابت قدمه اوسم.

۱۰- خدايه: د(( مبارزې تقوا)) را چې د مســـووليتونو په پلي کې ونه ښـويېږم او د(( گوښـې کېناسـتو له تقوا)) مې وسـاته، چې د انزوا او گوښې کېناستو ژوند مې روست نه کړي.

۱۱- خدايه! د هېواد پولي په خپل زور وســاته او په ســاتنه کې يې سرحدي ځواک ته وس کړه او له خپلو شتو دې ډېرې لورنې پرې ولوروه، شمېر يې ور زيات کړه، وسلې يې کاري او دښمن ځپلې کړه، شــاو خوا يې وســاته، ســنگرونه يې ور ټينگ کړه ، خپلمنځي پوځي او امنيتي اړيکې يې مظبوطې کړه ، چارې يې

تنظیم کړه، خوراک څښاک ور ورسوه او لوژستیکي چارې یې ور سمې کړه، او سختۍ یې یوازې تاسو هوارې کړئ. لاسنیوی یې وکړه، په زغم او صبر یې مل شه، د دښمن د تګۍ بڼګیو پر وړاندې څېرنه او دقت ورکړه، ړانده ماینونه پرې ور ړانده کړې، د دښــمن له ښاره یې په امن کې ولرې، خدایه : د هېواد د امنیتي ځواکونو تر منځ هر اړخیزې اړیکې را دبره کړې، چې ولس دې په ډاډ و لمانځې او احکام دې پلې شي. اسلامي نظام پلي او هر چار پکې د عبادت بڼه ومومي.

د خواجه عبدالله انصاري مناجات

۱-الهي، له خپلو بدیو ډارېږم؛ نو په خپلو ښو، دې ما وبښه .

۲-الهي، که څه هومره اطاعت نه لرم؛ خو په دواړو نړیو کې بې له تا بل څوک نه لرم.

۳-الهي، بې له تا جنت، د خوشــحالۍ ځای نه دی او بې ســتاله دوستۍ، د آزادی مخ نشته .

۴-الهي، هر څوک غواړي چې ته ور وګورې؛ خو زه غواړم، چې ته را و ګورې .

۵-الهي، پر یوه د پېرزوېنې لاس را کاږې اوله بل سره حســاب و کتاب کوې .

٦- الهي، د جنت گل د عارفانو د پښـــې اغزی دی، د مولی د لټوونکي له جنت سره څه کار دی؟ .
٧- الهي، پوهېږې چې بېوســـی یم؛ نو له دې بلاگانو مې خلاص کړه .
٨- الهي، که سولۍ مې کړې، رواده؛ خو شړه مې مه، او که دوزخ ته مې ولېږې خو ښه مې ده؛ خو له ځانه مې مه لرې کوه .
٩- الهي، زه څوک یم چې تا غواړم؛ ځکه پر خپل قیمت پوهېږم .

١٠- ونازېره چې د نازېدو ځای دی، د دوســـت د مخ لیدل د عاشقانو اختر دی .
١١- الهي، پر خدایتوب دې گواهي، له بېلتونه مې وساته .
١٢- الهي، د توحید بنســـټ مو را ویجاړ نه کړې او د هیلو بڼ مو، بې اوبو مه کړه .
١٣- الهي، راته دې وویل، په دنیا کې چې پانگوالوته په کومو سـترگو وینئ، درویشـانو او مسـکینانو ته مه وینئ؛ نو خدایه ! ته کریم او بښـونکی یې، په آخرت کې په هغو سترگو سرغړاندته و گوره، چې مطیعانو ته گورې .

۱۴-الهي، پر چا چې د خپلې مينې او محبت داغ کېښود، د هغه د هستۍ درمند دې نيست و نابود کړ .
۱۵-الهي، داسې پوهه را، چې لار وموم او داسې ليدانه را، چې په څاه کې ونه لويږم .
۱٦-الهي،لاس مې ونيســه، چې لاســوند نه لرم، او عذر مې ومنه چې د تېښتې ځای نه لرم .
۱۷-الهي، مه وايه، چې څه دې راوړي، چې درويشان يوو، او مه پوښته چې څه مو کړي، چې رسوايان يوو .
۱۸-الهي، داســې يوه پلټنه را، چې له دنيا بېزار او داســې توفيق را، چې په دين کې ټينګ شو .
۱۹-الهي، نه خوشحال يم نه زغمناک، نه رنځوريم نه مهجور.
۲۰-الهي، چې ښنګه دې و غوښتل هماغسې دې و انځور کړم .
۲۱-خدايه چار مې را جوړ کړه او کړ چار مې مه ګوره.
۲۲-الهي، هغه زړه را، چې عبادت او اطاعت ډېر کړي او د هغه طاعت توفيق را، چې جنت ته مې ښيون کړي .
۲۳-الهي، پېژندل دې راته امان او لورنه دې راته ښکاره ده .

۲۴- الهي، د کمزوریو پناه ځای یې، د قاصـــدانو د لارې پر سر یې او پر مؤمنانو گواه یې؛ نو څه کیږي چې لا یې زیات کړې او کم یې نه کړې؟.

۲۵- الهي، پر هغه ورځ چې درسره بوخت شـوم؛ نو لاس مې له هر څه ووینځه او بېزار شوم .

۲٦- الهي، له وسې مې پوره نه ده چې تقدیر دې واړوم او دا مې هم له وسې پوره نه ده چې عذر درته ونه کړم .

۲۷- الهي، ستا له وژل شوي، د وینې بوی نه راځي او له سېځل شــوي دې لوگی نه را پورته کیږي؛ ځکه سـیځل شــوی دې په سېځلو او وژل شوی دې په وژنه خوشحال دی .

۲۸- الهي، په دنیا کې مو گناه کوله، دوســـت دې محمد(ص) خپه کېده او دښـــمن دې، ابلیس خوشـــحالېده؛ نو الهي، که د قیامت پر ورځ ســزا را کړې؛ نو بیا هم دوســت دې محمد(ص) خپه کیږي او ابلیس دښمن دې خوشحالیږي؛ نو خدایه! دښمن مې دوه ځل مه خوشـحالوه او پر دوســت دې دوه خپگانه مه را وله .

۲۹- الهي، که یو ځل راته ووایې: زما بنده! نو له عرشـــه به مې خندا تېره شي .

۳۰- الهي، که کاسـني ترخه ده؛ نو له بنه ده او که عبدالله مجرم دی، له دوستانو څنې دی .

۳۱- الهي، چې درته وینم؛ نو تاج پر سر پاچایم، او چې ځان ته وینم؛ نو خاوره یم آن ترې ور ټیټ .

۳۲- الهي، نېکان خو به ښنې؛ نو له نانېکو سره به څه کړې؟

۳۳- الهي، که څه هم چې ګناهکاران یوو؛ خو ته ښنـونکی او غفار يې، که څه هم چې بد چاري یوو؛ خو ته پرده اچوونکی او ستار يې، د ور کړې زېرمه درسره ده، بې ساری او بې سیال يې، درسره وړ ده، چې له ګناهونو مو را تېر شې! .

۳۴- الهي، عبدالله له درېیو آفتونو وساته: د شیطان له وسوسو، له ځاني ټګی برګی او د ناپوهی له غروره .

۳۵- الهي، دا چې حاضر يې؛ نو څه و لټوم لاو دا چې څارن يې؛ نو څه ووایم؟

۳۶- الهي، دا چې څه غواړې؛ نو هماغه کوې؛ نو له دې مفلس بنده څه غواړې؟

۳۷- الهي، که له دوسـتانو یم؛ نو پرده هاخوا کړه او که له مېلمنویم؛ نو میلمه پال مې شه .

۳۸- الهي، له لارې پردې ور ها اخوا کړه او ځانته مو مه پرېږده .

۳۹- الهي، که عبدالله ته نه وينې؛ نو ځان ته ووينه او د دښمن په مخ کې مې بې پته کوه .
۴۰- الهي، وړيا دې پيدا کړو او وړيا دې روزي راکړه؛ نو وړيا مو وبښه، چې ته خو خدای يې، نه سوداګر! .
۴۱- الهي، و دې ويل چې کريم او بښـونکی يم؛ نو پوره هيله مو درته ده؛ نو چې کرم وي؛ نهيلي حرامه ده .
۴۲- خدايه، ټول د خپلو ځانونو له بنده خوشـــې کړه، ټولو ته وس ور کړه چې ځانونه وپېژني، ټول د شيطان له چلونو وساته، ټول له ځاني غوښتنو خبر کړه .
۴۳- الهي، هغه چې دې پخپله بللی، راز يې مه را بر سـېره کوه او ګناه يې پټه کړه .
۴۴- الهي، همدا چې د مينې اغيز دې را ورســيد؛ نو ټولې مينې پای ته ورسېدې .
۴۵- الهي، ټول درنه ډارېږي؛ خو عبدالله له ځانه ډارېږي؛ ځکه له تا ګرد سره نېکي را ولاړېږي او له عبدالله بدي .
۴۶ – الهي، ابو جهل له کعبې راځي او ابراهيم له بوتخانې، چار په لورنې دی، پاتې ټولې پلمې دي .

۴۷- الهي، کـه څـه گناه مې ډېره ده؛ خو عفوه دې لـه بریـده او ختې ده، الهي! که گناهکاریم، مســـلمان یم او بد مې کړي؛ نو پښېمانه یم .
۴۸- الهي، د پانگوالو چار له سرو سپینو سره دی؛ خو د دروېشانو (( نحن قسمنا ))
۴۹- یو دوســـتی ته رابلي او بل شـــړي، او څوک یې دمنلو او نه منلو په راز نه پوهېږي .
۵۰- الهي، په خپله دې ویش وکړ او قیمتونه دې کېښوول، پخپله ویشونکی او پخپله قاضي یې، نه پوهېږم چې را باندې غوسه یې یا را نه راضي یې، په هر حال ستا شکر .
۵۱- زړه ولاړ او دوست هم ولاړ؛ نو پوهېږم چې په دوست پسې ولاړ شم که په زړه پسې ؟
۵۲- الهي، پر خپلې بېوسی گواه یم او ستا له لطف او لورنې خبر یم. غوښتنه خو ستا غوښتنه ده،زه څه و غواړم .
۵۳- الهي، هغه ته چې دې خوښـــه شي، او به یې په لښـــتي کې رواني وي، او چې دې خوښه نشي؛ نو څه رغید ورته دی ؟
۵۴- الهي، بې ســتا له یاده ټول یادونه کبر دی او ســتا په یاد گرد سره غمونه خوشحالي ده .

۵۵- الهي پوهېږې چې بېوسى يم؛ نو له کړاوه مې وژغوره .
۵۶- الهي، دا چې د بېلتون اور دې درلود؛ نو د دوزخ له اورسره دې څه کار درلود ؟
۵۷- الهي، چې درسره اشنا شوم، له مخلوقاتو جلا شوم، په نړۍ کې شيدا شوم، پټ وم را ښکاره شوم .
۵۸- الهي، چې کله په غيبو کې وې؛ نو زه په عيبو کې وم، او چې کله له غيبته را پيدا شوې؛ نو زه له عيبو جلا شوم.
۵۹- الهي، تا غوښتي ما خونه دي غوښتي، چې له خو به راويښ شوم د لطف نظر مې وموند .
۶۰- الهي، ته د غريبانو نازوونکی يې او زه غريب يم، درد مې درمل کړه، چې ته مې طبيب يې، ای د هر ورک دليله!
۶۱- الهي، که چار په وينا وي؛ نو د هر چا د سر تاج يم او که په کردار وي؛ نو يو مېږي ته هم اړين يم .
۶۲- الهي، ازار مې مه غواړه، چې پر لښـــتي به د کرم اوبه بندې شي .
۶۳- الهي، ته مې په خپله گناه مه نيسه، او زه تا، په خپل کرم دې نيســم، ځکه کرم دې د لمر په څېر ځلاند دی او زه په خپله گناه نا څيزه ذره يم .

۶۴- الهي، ټول داريږي چې سبا به څه وشي؛ خو عبدالله ډاريږي، چې پرون څه ولاړل .
۶۵- الهي، په خپل فضل مې ونازوه او خپل حساب و کتاب ته مې مه ورپرېږده .
۶۶- الهي، په توبې پښېمان يم؛ پوه شه چې نوى مسلمان يم .
۶۷- الهي، عبدالله عمر وخوړ؛ خو عذر يې ونه غوښت .
۶۸- الهي، عذرونه مو ومنه او په نيمګړنو مو مه نيسه .
۶۹- خدايه! غنم مه را کوه، ډوډى را، د انګور بڼ مه راکوه، انګور را، ورکړه عزت دى او بېرته اخستنه شرم دى .
۷۰- الهي، که دوستي مې کړې نه ده؛ نو دښمني مې هم کړې نه ده، او که پر ګناه مې ټينګار درلود؛ نو پر توحيد دې منښتى يم .
۷۱- که توبه بې ګناه توب وي؛ نو توبه ګار څوک دى او که پښېماني وي؛ نو سر غړاند څوک دى ؟
۷۲- الهي، تر دې به کوم يو درد خوراستر وي، چې معشوق پانګوال او عاشق در ويش وي .
۷۳- چار، نه په رنګ دى او نه په پوټکي؛ بلکې د دوست په پېر زوينې دى .

۷۴- الهي، ستا یاد مې دین دی، ستا مینه مې لار ده، او نظر دې عین الیقین دی، روستی خبره مې داده: لطیف خدایه! پوهیږې چې دغسې ده .

تمت بالخیر